شريعت

اونيزه

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحريك نشراتي ارگان

دري كسان الله «جل جلاله» ته ډير ناخوښه دي:

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه وايي: دالله رسول صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: په خلكو كي دري ډوله كسان د الله «ج» په وړاندي ډير ناخوښه دي:
١- په حرم كي دالحاد خپوروونكي ٢- په اسلام كي دجاهليت دطريقو لټوونكي. ٣- او په ناحقه ديوه مسلمان په وينه پسي گرځېدونكي (رواه البخاري: مشكوة شريف)

يهود اونصارى مه دوستان كوئ

اى هغه كسانو چي ايمان يي راوړي دي (يعني اي مؤمنانو) مه نيسئ تاسي يهودان اونصرانيان دوستان !(چي له دوي سره موالات اومؤدت وكړئ!). (دوي يوتربله) ځيني دوستان دي دځينو نورو (ځكه چي ټول سره په كفر كښي شريك دي اوټول تاسي ته متفق دي).

سورة المائدة: ٥١

لومړى كال | اووه ديرشمه گڼه | دوشنبه د ١٣٧٥ هـ ش كال دسنبله دمياشتي (٢٦) | د١٩٩٦ميلادي كال سپتمبر (١٦) | د١٤١٧ هـ ق كال جمادي الأول (٤)

داسلامي تحريك محترم مرستيال ملا محمد رباني له شريعت اونيزي سره په مركه كي:

له محترم ملا محمد عمر «مجاهد» سره دافغانستان علماو دامير المؤمنين په توگه بيعت كړي دي

هر مسلمان افغان كولاي شي افغانستان ته راشي له تحريك سره داسلام له اصولو سره سم دملت په خدمت كي مرسته وكړي

د مؤسساتو كارونه له ملت سره مرسته ده اودي ته مونږ دقدر په سترگه گورو

دطالبانو داسلامي تحريك محترم مرستيال ملا محمد رباني له جلال آباد نه دشريعت اونيزي خبريال سره په ټيليفوني مركي كي دهيواد په حسركي نظامي حالاتو په اړوند ... چي دطالبانو د اسلامي تحريك مجاهدينو تر اوسه پوري په ټول شوي سيمو كي خپل ځواكونه منظم كړي او اداري بي فعالوي. ده زياته كړه چي دكتي له ولايت څخه دهغه ولايت سيمي زيري . اوځيني پخوانيومسئولينو دعوت راكړي دي چي هلته ورشو . خو مونږ دتحريك دعالي شوري فيصلي ته منتظر يو انشاء الله (٤)مخ

داسلامي تحريك نامتو سپه سالار ملابورجان وويل:

مونږ په ټول افغانستان كي ديوي اسلامي ملي اداري غوښتونكي يو

يوازي دسروبي اوكابل په نيولو مسئله نه حل كيږي بلكي مونږ غواړو ديونيم ميليون شهيدانو ارمانونه پوره شي

اتل قوماندان محترم ملا بورجان په لوي ننگرهار كي دطالبانو داسلامي تحريك دوروستيو بريالتيوبو په اړه وويل: مونږ په ټول افغانستان كي ديوي ملي اسلامي اداري غوښتونكي يو نه دا چي يوازي او يوازي غواړو چي سروبي او د كابل ونيسو ځكه يوازي دكابل او سروبي په نيولو مسئله نه حل كيږي بلكي مونږ غواړو د (٤)مخ

دحكمتيار وياند عبدالصبور پيښور راډيو ته وويل:

حكمتيار دانه دي ويلي چي پاكستان له طالبانو سره مرسته كوي

په اسلام اباد كي دحكمتيار وياند عبدالصبور پيښور راډيو ته ويلي دي چي حكمتيار دانه دي ويلي چي طالبان جلال آباد ته دتورخم له لياري راغلي دي.

عبدالصبور په خپلو خبروكښي وويل: چي دپاكستان (نيوز ايجنسي) په اوسنيو پيښو كيني دطالبانو لپاره دپاكستان دملا تړ په هكله بيان بي بنياده دي . عبدالصبور وويل چي صدراعظم (حكمتيار) هيڅكله هم داسي وينا نه ده كړي چي طالبان دتورخم له لاري جلال آباد ته ننوتلي.

په جلال آباد باندي د ائتلافي اداري جت الوتكو بمباري وكړه

شپږ تنه بي گناه ښاريان شهيدان و ٢٥ تنه زخميان شول

(٤)مخ

سرمقاله

جنگ تحريك اسلامى طالبان براى اقامه صلح وامنيت در كشور است

تحريك درهيچ نوع شرايط برخلاف عقايد وارزوهاي ديني وملي مردم مسلمان خود حركت نخواهد كرد

در حلقه هاى ملى وبين المللى گفته ميشود كه جنگ راه حل بحران وپرابلم كنونى افغانستان نبوده ، بايد راه حلى براى معضله فعلى از طريق مذاكره ودبالوك جستجو شود.

در بوعبت وچگونگى مذاكرات وتفاهم ،نظريات متفاوت ومتضادى درميان بوده تعدادى را عقيده برمذاكرات ودبالوك بين الافغانى بين گروها وتنظيمهاى جهادى به اشتراك افراد وذوات مستقل همكار جهاد ومجاهدين ميباشند واز تفاهم واشتراك با غير از منظمات جهادى . همكاران وهم نوايان شان خود داراى ميتمايند. وقستى را عقيده بر دبالوك ومذاكرات بين الافغانى در مجمع وكرد هم آيى وسيع از افغانها بدون در نظر داشت چگونگى عقيده ، مسلك ومشرب ميباشد.

كه البته هر يك از اوشان در طرز و ساختار اصول نظام سياسى ودولتى كشور نظريات ومفكوره هاى جداگانه يى دارند كه اصولاً در مخالفت وضديت هم قرارميگرد.

عده يى را عقيده برانيست كه قضيه يى افغانستان يك قضيه يى بين المللى بوده بايد ازطريق مؤسسه ملل متحد حل وفصل گردد. وتعدادى حل قضيه را به هم نوايى سازمان دول اسلامى وملل متحد خواستار ميباشند.

جناحها وحلقه هاى داخلى وخارجى علاقمند مسئله افغانستان هر يك براى رسيدن واقامه كردن نظر وطرح خود تيورى كنفرانسهاى منطقوى وبين المللى را ارائه ميدهند.

دول همسايه هم در مورد افغانستان اتفاق نظر در ميان خود نداشته هريك اهداف مقاصد ومنافع به خصوصى خود را دنبال نموده به ارائه نظريات وطرحها ى متفاوت وحتى متضادى اقدام ميورزند ومتأسفانه با دنبال كردن سياستها ى مقطعى عاطفى كه منافع خود را در آن مطمح نظر دارند به مداخلات صريح وبى پرده ى سياسى وحتى كمكهاى نظامى به جناحهاى مختلف متوصل ميشوند.

از تذكر فوق به وضوح معلوم ميگردد كه يك فورموله واساس معين ومشخص اتفاقى براى حل مسئله افغانستان به سطح ملى منطقوى وبين المللى

بقيه ص٢

دهرات والي محترم ملا يار محمد اخند له بي بي سي سره په مركه كي:

په هرات كي حالات ډير عادي دي اومسلمانان په ارامه فضا كي خپل خوشحاله ژوند ته ادامه وركوي

په هرات كي دوضع په اړوند وويل: په هرات كي حالات ډير عادي دي اومسلمانان په ارامه فضا كي خپل خوشحاله ژوند ته ادامه وركوي. مخكي به داسمعيل خان او رباني حكومت خلك په زور له دوستم سره اوله طالبانو سره په جنگول، اوس دوى (٤)مخ

په لغمان كي دكابل ائتلافي اداري يو هليكوپتر دطالبانو لاس ته ورغى

زموږ خبريال له لغمان څخه په خپل خبر كي وايي چي د ائتلافي اداري يوهليكوپتر دخپلو افرادو دليږدولو لپاره لغمان ته راغى خو دطالبانو اسلامي تحريك د زړورو ځواكونو له خوا ونيول شو. خبريال وايي چي اوس دمشرقي په ولايتونو كي امنيت ټينگ دي اوخلك خپل ورځني ژوند ته په ډاډه زړه دوام وركوي.

دطالبانو اسلامي تحريك داطلاعاتو اوكلتور رئيس محترم اميرخان متقي له امريكا غږ سره په مركه كي:

دا خبره څرگنده ده چي په عاليقدر امير المؤمنين باندي ټول خلك راضي دي

ظاهرشاه دشلو كالونو نه زيات كيږي چي له هيواد څخه ليري پاتي شوي دي اوس دغه مجهوله خبره ده چي ايا افغانان په ده باندي راضي دي اوكه نه دي؟

محترم اميرخان متقي قندهار نه د ډاكټر ناربت هول دسفر په هكله وويل: هول سره كومه خاصه طرحه نه وه په خپلو خبرو كي يي په دي باندي ټينگار كاوه چي دكابل له اداري سره بايد مذاكرات وشي.

مونږ ورته په ځواب كي وويل، دا به ډيره نه انصافه لري خبره وي چي دافغانستان دخلكو قاتلان چي لاسونه يي دملت په وينو باندي سره وي هغه بيرته په افغانستان باندي حاكمان كيږي او هغوته په حكومت كي برخه وركوله كيږي . دكابل اداره ديرديو هيوادونو غلامه اداره ده . ډير مسلمانان يي په شهادت رسولي دي. مونږ له هغو سره مذاكرات د وخت ضايع بولو. مونږ نه يو حاضر چي له هغو سره مذاكرات وكړو. (٤)مخ

په هرات كي دتخريبكارانو لاسونه لنډ شول

د شريعت خبريال له هرات څخه په يوه خبر كي وايي چي دهرات په ولايت كي ددښمنانو د تخريب لاسونه قطع شول الحمد لله دهرات په ولايت كي خلك دطالبانو له اسلامي تحريك څخه ډير زيات خوشحاله دي، په دي ورستيو كي چي دهرات په ولايت كي يوشمير نامطلوبو عناصرو غوښتل چي دپرديو په اشاره او مزدوري تخريبي اعمال سرته ورسوي . هغه د لوي خداي په فضل دديندارو خلكو په مرسته په بشپړه توگه خنثي شول، اوس دهرات ولايت ديندارو خلكو ته څرگنده شوه چي هغو قوماندانانو چي پخوا به يي داسلام او مسلمانانو دغمخواري اواخلاص دعوه كوله او له هيواد سره يي ځانونه اخلاصمن بلل، اوس يي ثابته كړه چي ددوي عمل دوينا مخالف دي دخلكو په وړاندي په دغه ازموينه كي ناكام وختل . اوس دوي دپرديو غلامان دي اودهغو په اشاره خپل هيواد ورانوي.

مونږ به خاصه توگه دالله «ج» د رضا اودافغانستان دمسلمان ملت دنجات لپاره قيام كړى دي

(اميرالمومنين)

مونږ اودافغانستان ټول مسلمان ملت ستاسو ترشا ولاړ يو

(پروفيسور فضل الله فيض)

پدى نژدى ورځو كښى ددينى عالمانو يو وفد چي دپروفيسر فضل الله فياض ترمشرى لاندى له پيښور څخه دكوټي له لارى كندهار ته تللى و هلته ئى داميرالمؤمنين (٤)مخ

خداي مومل شه

(نهضت ستانيزي)

سترو سترو طالبانو خداي مومل شه
دكابل په لور روانو خداي مو مل شه
چي دخداي په لاره ځي دخداي دپاره
داسلام زلمو سپاهيانو خداي مو مل شه
چي له سراومال نه تير د رب په دين يئ
اي صديقو افغانانو خداي مومل شه
«ستانيزى» درته دعا كوي دحشر
پري ورځي ددين زمريانو خداي مومل شه

١٣٧٥/٦/٢٥ هـ ش [illegible]

دكابل غير شرعي او غير قانوني اداره ... (٢)مخ

دهرات كليزه په ننگاركي .. (٢)مخ

طالبان دهيواد ژغورنكي بيجان .. (٣)مخ

د ادب ملغلري (٣)مخ

(٣)مخ

دهغه هدف دخداى رضا وه نه دمقام ترلاسه كول (٣)مخ

رحيم الله يوسف زي دجلال آباد دبدلون په هكله بي بي سي ته په راپور كي وويل:

طالبانو دجلال آباد دبري د ډېري دنگ جوړولو پرځاي دعظيم الشان قران تلاوت كاوه او ښتن ته يي په ځمكه سر كينوده

BBC ١٣٧٥/٦/٢٣

د دجلال اباد او تورخم كابل دلويي لاري ديوي برخي له نيولو وروسته طالبان كولى شي چي دجلال اباد او چار اسياب او دميدان ښار ته دسريښو ...سر كړي په ټولو كابل دافغانستان بلوه [illegible] كړي ځوا دجلال آباد نيولو سره به ... داخي طالبانو څخه الوتكي نيولي چي يكي دوه جنگي الوتكي هم دي دوي اوس كولى شي چي دجلال آباد هوايي ډگر دلاري دپاسه عسكرو ته ... خپل هوايي مرستو ... دجلال اباد نيول كيسه ... ننگرهار كي دمجاهدينو له شورا ... خوشحاله به وو پدى شوراكي ... دنده نورونه ... [illegible] طالبانو دجلال آباد به بري ... په ځاي دعظيم الشان قرآن تلاوت ... اوښتن ته يي په ځمكه سر كښود ... ښكاري چي طالبانو ... [illegible]

جنرال رحمت الله صافي وويل:

طالبان قامي اوافغاني افتخارات لري

جنرال صافي ... وبلي چي دكابل اداري ... [illegible] ... لري

د كابل ... اداره په دا ټول ... په براخې طالبان ... [illegible] (٤)مخ

د احمد زيو دقامي مشرانو دمبارکي

پيغام

اميرالمؤمنين محترم ملا محمد عمر «مجاهد» دشوري غړيو ... دخپلو ولاياتو مؤمنو مسلمانانو ، طالبانو ته دلويو بريالتيوبو دمباركي مراتب وړاندي كوو اوله لوي خداي نه حل حلاله څخه په ټول افغانستان كي دشريعت دنفاذ هيله من يو.

والسلام

استكبار جهانى نبايد در سدد تحميل زعامتهاى دلخواه شان بر ملت مسلمان ما باشند

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحريك
دتأسيس كال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليكوال هيئت تركنتي لاندي
مسئول مدير : مولوی احمد جان
تيليفون : ۸٤۰۲۷۸
آدرس : په پيښور كي دطالبانو داسلامي تحريك نمائندگي
ديوي گڼي بيه : په هيواد كي (۵۰۰) افغانۍ
: په پاكستان كی (۳) كلداری

سرمقاله ...

در دست نبوده وملل متحد هم كه فعاليت طولانی تقريباً يك دهه را در مورد حل سياسی قضيه افغانستان دنبال داشته است ـ

ـ نسبت نداشتن يك طرح و فورمولهٔ مشخصی راه حل قضيه در هر مرحله يی از فعاليتهای خود كه به تعين وفرستادن نماينده خاص وجديدی تعقيب ميشود هيچ دست آوردی نداشته بلكه وضع را پيچيده گردانيده است.

متأسفانه هر يك از نماينده های ارسالی ملل متحد از سليقه های شخصی خود كارگرفته احياناً تقدس وبی طرفی ملل متحد را علناً به نفع جناح ويا جناحهای نقض وزيريا ميكنند كه نمونه بارزی آن ماموريت يك طرفه ويك جانبه اخيری آغا ی داكتر هول و رفقای كارشان ميباشد كه به اظهارات يك جانبه خود عملاً به نفع اداره بدنام ائتلافی كابل مصروف خدمت ميباشند. در طول اين مدت مديدی كه بنام حل سياسی مسئله افغانستان فعاليتهای متعدد ی صورت وانجام پذيرفته است. مردم افغانستان همه هست وبود خود وهمه حيثيت ووقار ملی وبين المللی خودرا از دست داوند وبه يك تراژيدی عظيمی تاريخی بشری مواجه گرديدند استقلال ، حاكميت دينی وملی تماميت ارضی كشور شان عملاً تحت سوال قرار گرفته است كه مجامع بين المللی هيچ نوع دست بيشی ئی عملی غرض نجات اوشان نتوانست ويا نخواست كه بكند.

تحريك اسلامی طالبان با درنظر داشت حقايق وواقعيتهای فوق غرض نجات ملت مظلوم وتضعيف شده خود دست به قيام زدند وتوصيه به حق نمودند چون از شنيدن توصيه از طرف تفنگ داران بی هدف وبی ماهيت كه آرام وحيثيت ملت مجاهد افغانرا مورد تهديد قرار داده بودند مايوس گرديدند ، بعداز اتمام حجت مكرر ، دست به سلاح بردند وجنگ رابغرض اقامه صلح وامنيت آغاز داشتند كه الحمد الله بنصرت الله «جل جلاله» وهمكاری بيدريغ ووسيع هم وطنان مجاهد ومسلمان خود از سه حصه دوحصه ئی كشور را عملاً سبب نجات گرديدند. تحريك اسلامی طالبان باعقيده راسخ كه به صلح، امنيت وهمزيستی مسالمت آميز به سطح ملی وبين المللی دارند از همه كوششهای مخلصانه وغير مغرضانه بی منطقوی وبين المللی كه جنبه عملی داشته باشد و حاكميت دينی وملی واستقلال حقيقی وتماميت ارضی كشور را تضمين نمايد مخلصانه ومجد انه حمايت وپشتيبانی مينمايندوهيچگاه به جنگ بی هدف وماجرا، جويانه عقيده نداشته وآنرا راه حل نميداند، بلكه به جنگی عقيده داشته و آنرا واجب اهم دينی خود ميداند كه سبب حاكميت كلمه خدا«جل جلاله» واقامه عدل ،صلح وامنيت ميگردد. تحريك اسلامی طالبان به حيث خادم دين وملت پيروزيهای اخير راكه تضمين كننده عملی شريعت، استقلال، تماميت ارضی وارزشهای ملی ميباشد وبزرگترين قدمی در راه وحدت جغرافيائی وارضی واداری كشور بوده به حضور ملت مسلمان و بزرگ افغانستان تبريك غرض داشته احترامانه ياد آور ميشوند كه : ای ملت عزيز ومجاهد! تحريك طالبان كه فرزندان اصيل جامعه روحانيت وخادمين مخلص شما ملت عزيز ميباشد هيچگاه وتحت هيچ نوع شرايط مخالف عقايد وآرزوهای بزرگ دينی وملی شما حركت نكرده با برنامه وهدف مشخص كه به آن تعهد اكيد ولايتغير دارند (تنفيذ شريعت خدا در زمين خدا) «جل جلاله» تحت قيادت وزعامت اگاهانه يی مرد مجاهد خاشع وخاضع وخايف من الله جناب امير المومنين ، ملا محمد عمر «مجاهد» تاآخرين لمحات حيات به اين جهاد ومبارزه برحق خويش ادامه ميدهند. وهيچ تغيری را در هدف وقيادت برخود دراين شرايط خطير درست وموجه نميداند.

ملت عزيز! استكبار وكفر جهانی وعمال خاين داخلی آن از پيروزيهای عظيم وچشمگير اخير فرزندان روحانی وطالب شما شديداً تكان خورده اند به توطئه های گوناگونی غرض خراب كردن ذهنيتها دست زده وميزنند بايد بافراست وهوشياری دينی مقابل آن برخورد كرده دامن آگاهی صبر واستقامت را از دست نداده وبه تبليغات آنها گوش ندهيد. استكبار جهانی ودول منطقه نبايد در امور داخلی ما تحت هيچ نام وعنوانی مداخله نمايند.واز اظهارات غير مسئولانه ومداخله گرانه رجال دولتی وغير دولتی خود ها كه منافی آداب سياستهای كشوری وبين المللی ميباشد وبه حيثيت مستقل وآزاد وغرور ملی ماتعرض پنداشته ميشود جداً خود داری نمايند.

د شريعت تبصره

مور د خدای «جل جلاله» په مرسته ايمان لرو

اتلس كاله نارامی ، اتلس كاله گهوډي، اتلس كاله دربدری ، اتلس كاله مرگ ژوبله اواتلس كاله نااميدی هسی ورځ خبره نه ده ،په اتلسو كلونو كی بوماشوم دځوانۍ له دوری څخه دسپيتوب دوری ته داخليږي. په اتلس كلنۍ كی بوماشوم پخپله پلارګرزی اودماشوم خاوند كيږي اواتلس كاله عمر د يوزده كوونكی دتحصيل دپوره كولو موده ده ، خو په دومره اوږده موده كی زموږ حالت بدل نه شو موږ . له مخكښو څڅه زده نه كړل اوموږ دخپل ژوند دسمون په باب مثبت فكر ونه شو كړاي او دادی اوس هم داوريه سره بنی كی زموږ هيوادوال تيتی كيږي.

دا ولی او دا دچا دلاسه ، اوس خو زموږ له هيواد څخه زموږ دمسلمانو خلكو دايمان اوعقيدی په قوت روسان په ماتی وتلی دی اواوس خو داخلی كمونستانو بی بنياده واكمنی رنگه شوی ده ، خولا موږ ديوه مركزی قوی اوقانونی حكومت په جوړولو نه يو بريالی شوی او دادی اوس هم ديوه داسی حكومت داستقرار لپاره مبارزه روانه ده چی دمسلمان ملت ملاتړ ورسره وی او دهغوی په مرسته منځ ته راغلی وي.

حقيقت دادی چی دتاريخ په اوږدوكی كله چی زموږ هيواد له يوه دغه شان حالت سره مخامخ شوی او بيا زموږ نيكونه اوپلرونه دمقابلی ډگر ته وتلی دي، نو ددښمن تر ماتولو او دبشپړی د ترلاسه كولو نه وروسته هغوی خپله دغه قربانی اودغه سرښندنه پرملت باندی دخپل ځان د واكمن كولو وسيله نه ده گرځولی بلكی دوباره فاتحينو په توگه راستانه شوی اوواك يې ملت ته سپارلی دي، ملت چی هره فيصله كړی ده هغوی دسريه ستر گو منلی ده .

له بده مرغه دبو تريخ حقيقت په توگه دا بايد ومنو چی موږ دخپلو نيكونو اوپلرونو په قدم پل كيښود ، كه څه هم په لومړی قدم كی دخپلو نيكونو اوپلرونو په پلونو روان شوو هغه ميړانه اوهغه قهرمانی چی زموږ نيكونو دتاريخ پاڼو ته سپارلی وه موږ هم هغه شان وكړل او دنړيوالو ستر طاغوتی طاقت موږ ماته گونډو كړ. خو چی دهيواد دسمباليښت وخت راورسيد بيا نو څينو قدرت غوښتونكو هريوه خپل ځان دهيواد دواكمنۍ مستحق وباله او ددی كوښښ روان شو چی تربل هر چا دمخه دارگ مليړته ځان ورسوي.

دهمدغه كشمكش اوځان غوښتنې په نتيجه كی زموږ دجهاد وياړلی اهداف تر خاورو لاندی شول اوگڼلی افتخارات اوبو راته يوړل. زموږ دافغانيت نيغه شمله را پريوته، ملی يووالی موله گوانښ سره مخامخ شو اوبو ټول داسی ملوك الطوايفی رامنځ ته شوه چی نه يوازی په هر سيمه ، هرولايت او هره ولسوالی كی ځانگړی واكمنی جوړی شوی بلكی دكليو په سطحه هم داسی واكمنی رامنځ ته شوی چی دبلی يوی اداری تر كنترول لاندی هم نه شوی راتللای.

دهمدغو نارامیو، گهوډيو ، دربدريو ،

دكابل غير شرعی اوغير قانونی اداره دی له ناروا سرتيتگی څخه لاس واخلی

مولوی عبدالحكيم «مجاهد»

په كابل كی د ربانی دولت اوس هيڅ شرعی اوقانونی حيثيت نه لري. هغه شرطونه او مواصفات چی دبين المللی حقوقو اوقوانينو له مخی ديوه دولت دقانونيت دپاره لازم دی اوس دربانی د كابل په اداره كی موجود نه دی او په غير قانونی توگه يی په دغه غم ځپلی ملت باندی ځان مسلط كړی دی ، دغه شرطونه په لاندی ډول دي:

الف – دبين المللی اصولو له مخی دولت دمخالفينو په نسبت دهيواد زياته برخه بايد تر كنترول لاندی ولري. په داسی حال كی چی دطالبانو اسلامی تحريك چی دربانی دفاسدی اوغير شرعی اداری په خلاف جنگيږي، دهيواد دوه په دری برخه له ځان سره لری اودملت بشپړ ملاتړ ورسره دي.

ب – دولت به له ځانه سره دهيواد دخلكو دوړيري(اكثريت) ملاتړ لري. اودكابل اداره له ځانه سره دځوتوپكيانو ، لوټمارانو او دكرايي دلښكر نه پرته بل څوك نه لري. په داسی حال كی چی دطالبانو اسلامی تحريك چی له دينی طالبانو څخه جوړشوی ، ټول هيوادوال يی ترشا ولاړ دی اودوی عملاً دملت دسر ۰۰ ٪ اوعزت ساتونكی دي.

ج– دولت بايد يو منظم حا[illegible]ری او دكابل اداره يومتضاد ائتلاف او دكهوډيوپوه مجموع ده چی په خپلو څوكيلومتری‌اداری باندی هم بشپړ تسلط نه لری اطاعت يی نه كيږي.

د– قانونی دولت بايد په هيواد باندی حاكميت ولری اوقانونی اقتدار يی په ملی اوبين المللی سطحه منل شوی وي. په افغانستان كی ۹۵٪ خلك نه پراځې داچی د ربانی د اداری مخالف دی بلكی عملاً يی دربانی اداره مسترده كړی ، متبادله اداره يی تشكيل كړی اويه خلاف يی جگړه روانه ده.

په اسلامی او شرعی لحاظ خو دربانی اداره د[illegible] اوسنت په رڼا كی په څلورو مذهبو كی جوا[illegible] اومشروعيت نه لري، ځكه چی اسلامی شريعت [illegible] اسلامی دولت اواسلامی خليفه ، امام ، امير[illegible] جمهور رئيس دپاره لاندی شرطونه لازم كړي[illegible] چی ربانی او دهغه اداره يی نه لري.

۱– امام به ددين د اصولو سا[illegible]
ددين مخالفينو ته به دشرعی دليل له [illegible] قناعت وركوی ، خوربانی اودهغه اداره حتی تر اوسه پوری خپله شرعی قانون نه لری او اداره يی زياتره دپخوانيو كمونيستانو په لاسونو كی ده.

۲– دولت به دخلكو امنيت په هيواد كی تأمينوی ، په داسی حال كی چی ربانی اومتحدين يی په خپله دفساد ، لوټمار اولاروهنی اساسی عاملين دي.

۳– دولت به په هيواد كی شرعی حدود اوقصاص پلی كوی ،حال دا چی دځلوروكالونو پهاوږدو كی تراوسه دوی نه حد جاری كړی اونه قصاص، څه موده مخكی يی دری تنه اعدام كړل ، په اعلان كی يی په غير شرعی انداز باندی وويل: دغه اعدام عادلانه وو، داځكه چی ددولت دجزايي قانون (....) مادی په اساس اجرا شوی نه داسلامی شريعت په اساس ، په داسی حال كی چی دغه قانون هغه دكمونستانو د دوری قانون دی او دوی وربالدی عمل كوي!

٤– دولت به دهيواد سرحدونه ساتی څو دښمن وربانده حمله ونكړی ، په داسی حال كی چی دربانی اداره دكابل په څو كيلومتری كی خپله دځان ساتنه نشی كولای ، سرحدونه خو ډير لری دی چی يی چاره گان هلته ورتلای هم نشي.

۵– دولت به داسلامی دين ته دخلكو دعوت كوی اوددين له دښمنانو سره به جهاد كوي. خو دكابل د اداری كار سرچپه دئ، له كمونستانو سره ائتلاف كوی په قانون يی عمل كوي. خو دطالبانو داسلامی تحريك چی په دوه ثلثه افغانستان كی يی اسلامی شريعت پلی كړی دی ، حنفی فقه يی شرعی قانون دي، ددين عالمان يی قاضيان دي. په خلاف يی دمقدس جهاد اعلان كوي!!

٦– امام به ددولت اداری چاری باتقوی او باكفايته اشخاصو ته سپاری اوملی چاری په ددينداره اوباعتماده كسانو په لاس وركوي.

په داسی حال كی چی دربانی د اداری زياتره پرسونل دنجيب اوكارمل دحكومت ملحد ين، مفسدين اورشوت خواره دي .

۷– امام به له شرعی احكامو سره سم ددولت بيت المال دپاره له ملت څخه عشر، زكوة، خراج اونور صدقات راټولوی اويه مستحقينو به يی ويشي. د ربانی اداری تر اوسه داسلامی بيت المال له سواردو څخه يو هم نه ده اجرا كړی او نه يی په رسميت پيژندلی دي. بلكی ټول بانكی اومالی نظام يی هغه پخوانی دكمونستانو د دوری كمونستی سستم دي. چی په ظالمانه اوغير شرعی، سودی نظام باندی اداره كيږي. دپورتني تحليل سره سم د ربانی دولت نه دبين المللی حقوقو اوقوانينوپه اساس كوم قانونی حيثيت لري اونه د اسلامی شريعت په رڼا كی كوم جواز اومشروعيت لري. په دغه اداره كی سره ټول شوی عناصر نه كومه خاصه دولتی برنامه لري اونه په يوه مشخص عقيدوی اوايډيالوجيك محور راټول شوی دي.

څيني دسكترستی برتريو اوانحصار دپاره كار كوی ، ځيني د بل په مرگ كی دځان دپاره د رهبری خوبونه وينی اوځينی نوريی لگيا دی دافغانستان ددولتی اوملی شتمنيو دلوټولو اويه بهرنيو هيوادونو كی د ذخيره كولو بدمرغه او كرغيړنی هلی ځلی كوي .

ددوی دبی كفايتي، ماده پرستی اوتنگ نظری له كبله په هيواد كی كمونستی ، سيكولرستی او ارتجاعی هغه څواكونه چی دافغانستان دموجوده تباهی اوبربادی اصلی او اساسی عاملين دي، دكفری هيوادونو په مرسته يوځلی بيا خپل ځانونه منظم كوی څو دافغانستان دمسلمان او مجاهد ملت دمقدس جهاد سپيڅلی پايلی اوثمری ددوی له لاسه ويا سی اويه نړيوال استعمار باندی يی وپلوری او دغه مجاهد ملت يوځلی بيا دكفری استكباری هيوادونو په تاليدلو خونخوارو منگولو كی وركړی اوملت يوځلی بيا دوينو په درياب كی لاهو كړي.

داسلامی انقلاب په دغه حساسه اونازكه مرحله كی دكابل غير شرعی اوغير قانونی اداری ته پكار دی چی له ناروا سرتيتگی څخه لاس واخلی او قدرت دطالبانو اسلامی تحريك ته وسپاري، اوكه نه نو په هيواد كی دهر راز بدمرغيو ، برباديو، بدبختيو او وينوتويولو مسئوليت په ددوی په غاړه وي.

دهرات كليزه په ننگرهار كي ونمانځله شوه

نظري

الحمد والمنه دابوربستيني او ځرگند حقيقت دي چي د اسلامي تحريك شاه زلميوطالبانو دخپلو متدينو هيوادوالو په مرسته داسي كارنامي وكړي چي نړيوال ورته گوته په غاښ او هك پك پاتي دي.

دنړيوال سوله دوست پلاوي ددي هيوادا له جگړه مارو مجرمانو نااميده ځواب شوي!

هري ملي جرگي چي دجوړجاړي مزي به يي غبرگاوه ، هغه به دجگړه مارو مجرمانو په زور وبلو اوجنگ ته په ورڅو پيسولو غوځيدل.

دهيواد مشهور او جيدو مدرسو عالمانو دمشهور عالم دمولوي ذاكري، ترمشر تابه لاندي څو څو ځلي خپلي جرگي اومركي جگړه مارو تخريب كارو ډلو ته ورغلي خو دغو له زوره ډكو جگړه مارو ډلو ددوي ديني اوقرآني احكام او ارشادات ونه منل د جگړه مارو ډلو ليونتوب دي سرحد ته ورسيد چي د دواړو غاړو په جگړه مارو گروپونو كښي هاغه ناندري وشولي چي قلم اوژبه يي له څرگندونو څخه شرميږي، ژبني اوتوكنيز، مذهبي اوفرقه ئي سياستونه داسي استعمال شول چي دقهرمان مجاهد هيواد گيتلي برم ئي له خاورو سره خښير لاخته بلكي دهيواد دتخريب هنگامي په خپل زور سره مطرح كيدلي.

آن ترذي چي بانك نوټونه سره بيل ، هوائي او ځمكني قوت سره بيل ، اويوديل په مقابل كښي استعمال شول .

ائتلافونه به جوړيدل اوماتيدل. دخپلي بقا او واكمنۍ خبره مطرح وه هرچاته دځانځانۍ پلان اونقشه لازمه اومطلوبه ښكاريده ، له شخصي گټو څخه يي دهيواد گټي لاڅه بلكي غونډ هيواد ئي هم قرباني كاوه.

ددي غميزي په اوږدو كښي دنجات ملكي اودمحمدي لښكر ځرك (دطالبانو اسلامي تحريك) را ځرگند شو. دطالبانو اسلامي تحريك په لږ وخت كښي خپل هيواد- وال لدي غمجن اوكرغيړن حالت څخه په داسي تنگ اوسرښندانه راوويستل چي په لومړي‌مرحله كي ئي دهيوادوالو په مخ لاري له پانكونو ، قطاع طريقانو ، رشوت خورو ، چوراوچپاول كوونكو څخه وژغورلي.

په سيمه كي ئي امنيت ، عدل اوانصاف رامنځ ته كړ اودمحمدي شريعت دنظام قيام ئي په عمل كښي پلي كړ. هيوادوالو ته يي خپله اسلامي برنامه اوكړنلاره اعلان كړه ،دخپل تحريك اهداف او مرام ئي هيوداوالو ته په گوته كړل .

دخپلي برنامي اوكړنلاري كليزه ئي دهيواد په جنوب غرب هرات كي ونمانځله او دويمه كليزه ئي دهيواد په مشرقي ننگرهار كي الحمد والمنه ونمانځله اوس زموږ هيوادوال لاس په دوعا اوسترگي په لاره دي چي دا شاه زلميان طالبان به دهيواد په مركز كښي يوسپيڅلي مركزي اومستحكم حكومت قايم اوداسلامي شريعت قوانين به په غونډ هيواد كښي پلي شي .

هم دا احساس دي چي غونډ هيوادوال دطالبانو داسلامي تحريك ترشاولاړ اودمجرمانو په محاكمه كولو كښي ئي ملا- تړ كوي.

داسلامي تحريك شازلميانو داهوډ كړي چي‌پوره بشپړ شريعت له قيام څخه به په بل هيڅ شي قانع نه شي
.ومن الله التوفيق

طالبان دهيواد دژغوروونكی بچيان او اسلامی نظام راوستونكی اتلان دی

خليل زی

سرگ ژوبلی ،نااميديو او ورو ورو ملوك الطايفيو دله منځه وړلو اويه هيواد كی ديوه مركزی قوی اوقانونی حكومت دجوړيدو لپاره دملت له منځ څخه دطالبانو اسلامی تحريك راپاڅيد، دلوی خدای « جل جلاله» په مرسته او دخپلو مسلمانو او ديندارو خلكو په غوڅ ملاتړيې دهيواد له نيمايي نه زياتی سيمی دظلم اوفساد له غير قانونی واكمنيو آزادی كړی او دادی اوس هم دلوی خدای « جل جلاله» په مرسته او دخپلو خلكو په بی دريغه ملاتړ خپلو برياوو ته دوام وركوی ، چی دادی اوس دبری هغه ټاپی (ځای)ته رسيدلی دی چی په هيواد كی يوه قانونی مركزی اداره جوړه كړی .

دطالبانو اسلامی تحريك وياری چی دخپلو خلكو له منځه راپورته شوی، دهغوی په مشوره عمل كوی اودهغوی دنجات لپاره خپلو پرمختگونو ته دوام وركوی ، دطالبانو اسلامی تحريك دلوی اومهربان خدای « جل جلاله» په دوامداره مرستو باندی په ايمان لرلو سره دادی دمشرقی ولاياتو تربرياليو عمليانو وروسته دكابل په لور پرمخ روان دي، دغه پرمخ او دغه بريالیتوبونه بوازی زموږ داخلاص ، له خلكو سره دمينی اوخپل هيواد ته د وفادارۍ ثبوت دي.

دطالبانو داسلامی تحريك ټول افراد اودغه تحريك ته وفادار ځواكونه دشخصی واكمنی‌او شخصی گټو دترلاسه كولو لپاره نه دی راپورته شوی او دابه هيڅكله څوك ونه وينی چی ددغه اسلامی تحريك افراد حتی يو فرد هم ملی گټه له فردی گټی نه قربان كړی اويا خپله شخصی گټه تر ملی گټی غوره وبولی بلكی هميشه خپله گټه دخپلی مسلمانی ټولنی په گټه كی لټوو، خپله ارامی دخپلی ټولنی په ارامی كی گورو او خپله هستی دخپل مسلمان ملت له هستی‌سره تړلی بولو.

ځكه خو نوباور لرو چی د خدای « جل جلاله» مرسته له موږ سره ده او بالاخره خدای « جل جلاله» هغه چاته بری په برخه كوی چی خاص دده درضا اودهغه خدای « جل جلاله» دبندگانو دخدمت لپاره راپورته شوی وی او دايی دخپل ژوند شعار گرځولی وی چی دژوند ترپايه پوری به د خدای « جل جلاله» دبندگانو خدمت كوی اوخپل ټول قوت به په دغه سپيڅلی لار كی مصرفوي.

داخو هيڅچا ونه ويل چی گوندی زما شرومبی ترووی دی

اويه دی خبره هم چا اعتراف نه دی كړی چی زه ملامت يم .

هرڅوك په خپله خبره ټينگ ولاړ وی اوځان په خپله مدعی كی حق بولی او دهر څه دپاره بس خپل ځان مستحق گڼی اومقابل لوری ته ددی خبری حق نه وركوی چی گوندی هغه دی هم دخپل نظر عقيدی او ارمان څخه دفاع وكړی .

وايي: عطر هغه دی چی خپله خوشبويی ولری نه چی عطاريی صفت كوی دا مسرض دنوروپه پرتله په افغانانو كی څه زيات ليدل كيږی هسی خو دسياسی ډلو ټپلو دا عادت دی چی خپل ځان دهرڅه مستحق بولی اويه مقابل لوری باندی راز راز تورونه پوری كوی اويه دی ترتيب غواړی دعامه ذهنيت په خرابولو سره دځان په څيرملگری پيدا كړی مثلاً ځان ته حق وركوی چی دخپل شوم غرض لپاره دنورو وينی توی كړی وطن وران كړی عامه شتمنی لوټ كاندي ولی مقابل لوری ته ددی حق نه وركوی چی ددی ناوړه عمل مخه ونيسی اوكه څوك داكار كوی هغه باغی دی ،طاغی دی، قانون‌شكن دی، وطن فروش اوداسی نور اونور. او داسی خلكوته بيا داعدام په جزا قابل وی داخو ځكه چی دده دناروامخه نيسي. دمثال په ډول دوستم چی كله دحكومت په لوری كی و دده ټول قوت دنام نهاد حكومت اويا په بله اصطلاح د اسلامی اردو جز و خوكله چی دا ډله دحزب اسلامی په طرف ودريدله نوسمدستی وربادی دجهاد اعلان وشو؟

(مشت نمونه خروار)

كله چی اسلامی انقلاب بری ته ورسيد له بده مرغه له انقلاب سره خيانت وشو دقدرت مينانو له كمونستانو سره ائتلاف وكړ او په افغانستان كی داسی چور اوچپاول شروع شو چی دخلكو شخصی شتمنی خولاڅه چی عامه شتمنی ورسره هم دغنيمت په نوم تالا والا شوی اويه رسمی ادارو او دولتی ادارو كی دومره څه پاتی نه شول چی دسپا په درد وخوري .په هيواد كی دبهرنيو غرضی لاسونه راپيدا شول . اوس چی دايران خارجه وزير يا دهغه معاون بامياںو ته ځی او دهزاره ملت جرگی كوی پلانونه جوړوی او دفساد تخم شيندی اوكله خو بيا دملگروملتونو استازی ښكته پورته زغلی او ترخونه معلوموی چاته بنه اوچاته بد وايي دوی ته داحق چا وركړی دی اودا ميلمه كوم افغان بللی دی او دا دچا حق دی چی دبو مسلمان آزاد غيور، بت شكن ملت په سرنوشت بيع بازی وكړی ؟ ددی سوال ځواب به ارو مرو ددی خاوری بو بچی وركوی .

خاكساران جهان رابه حقارت منگر
توجه دانی كه درين گردسواری باشد

افغانی مينيدو هميشه نوابغ، نوريالی اومينړنی زيږولی دی دا هيواد ميرات نه دی هرومرو اتلان لري.

هغه و چی ددغو بدبختيو دمختيوی دپاره دطالبانو اسلامی تحريك رامنځ ته سو دا دافغانستان هغه ځوان حی [illegible] استادان دی چی دجهاد په اوږدو كی بی بی ساری سرښندنی يواځی ددی په خاطر وركړی وی چی هيواد له كمونستانو او روس[illegible] څخه ازاد كړی اوطلنه اسلامی شريعت پلی كړی دوی دجهاد كاميابی ته وروسته بيرته مدرسوته ولاړل، خوكله چی له اسلامی جهاد څخه د انحراف لږ‌ربيل شوه په هيواد كی انارشی رامينځ ته شوه دوی ددغو ناخوالو زغم ونه شو كړی كتابونه يی پوری كړل اوخپلو استادانو په لارښوونه په اسلامی جذبه اوافغانی هوډ شی اوخالی لاسونه راروان شول اويه خالی لاسونو بی دجنگ جگړی په ضد مبارزه شروع كړه وسله والو قوتونو چی دخپلو ليډرانو دعمل انجام په سترگو ليدلی وو اويوهيدلی وو چی غوليدلی دی نوبی دكوم ډزو ډوز څخه بی دوی ته وسلی وسپارلی او ورسره بی خپل ملاتړ اعلان كړ او ديو عظيم رحمت په ډول پرمخ روان شول چی په ډير كم وخت كی بی په زياتو برخو پوره حاكميت پيدا كړ چی داحال دچا څخه پټ نه دي، اونن سبا چی په كومو سيمو كی ددوی اداره ده هلته پوره نظم او امن قايم دی اوخلك په پوره ډاډ وړځی ژوند كوی سر، مال او ناموس بی په امن كی دي.

په اوله مرحله كی خوپروفيسور ربانی هم ددوی ښه استقبال وكړ اويه دی فكر و چی بايد طالبانو ته قدرت وسپاری خو بهرنی لاسونه و چی دي بی دی خبری ته پری نه ښود اويه مقابل‌جبهه كی يی ودراوه او دجنگ شروع يی ورسره وكړه. طالبان جنگ ته غواړی اويه دفاعی حالت كی قرار لري او دا ددوی مسلم حق دی چی له اسلامی جهاد مسلمانانو اوهيواد څخه دفاع وكړی په افغانستان كی اسلامی نظام قايم كړی دافغان ولس دپاره امن اوسراسری سوله تأسين كړی او له پاڼوسيانو اومجرمانو څخه وسلی راغونډی كړي.

په دی حالاتو كی داخيري هم شروع شوی چی داخو دپاكستان مليشه ده او ورسره ورسره بی‌ځانگړاره هم ورنگوله چی داخو زاړه كمونستان دی او نن سبايي دا اواز هم اوچت كړی دی چی د ا خو دظاهرشاه دپاره هلی ځلی كوي اوداسی نور...

:صاحبو اسلامی تحريك دلومړی ورځی څخه دا خبره كړی ده اويری ولاړ دی چی موږ چوكی اومقام نه غواړو بلكی په افغانستان كی دبو واقعی اسلامی نظام قيام ، دافغانستان دخلكو دپاره امن دسراسری سولی تأمين او دوسلو غونډول دی اودا ډيره مقدسه ايډيا اوعالی مرام دي.

او وايي چی راشئ وگوری كوم دی پرچمی اوخلقی اوكوم دی دپاكستان مليشه ؟ خو دی خبری ته هم مقابل لوری حاضر نه دی او تور لاس دی كله بی په يو چا اوكله بی په بل چاپاكوي.

داچی دافغانستان برسر قدرت اشخاص اوافراد په خپله خوله اعتراف كوی اودنورو بهرنيو هيوادونو په لږ كی دپاكستان دحكومت دمرستو نه قدردانی كوی ځان حق په طرف بولی ولی طالبان چی په دی خبره يی لاتر اوسه اشارهٔ او دلالتهٔ هيڅ نه دی ويلی اونه وربالدی اسناد اوشواهد موجود دی په دی خبره تورن كوی چی گوندی دطالبانو سره دپاكستان دحكومت مليشه ملگری ده.

سری نه پوهيږی چی داڅرنگه كيدای شی چی دپاكستان حكومت هم دطالبانو سره مرسته كوی اوهم ددوی د داخله وزير په مشری پاكستان ته د راغلی وفد سره دهر راز مرستی او همكاری ژمنه كوی اودكابل اداره وربالدی وياړی اوخوښی كوی ؟

حقيقت دادی چی طالبان افغانان دی دينی عالمان دي او ددي هيواد باتقوی اوځوان نسل دی دوی حق لری اومكلف دی، چی دخدای «جل جلاله» وطن اوخلكو په وړاندی خپل رسالت سرته ورسوی او دوطن دآبادی، دخلكو دآرامی‌له پاره دافغانستان دټولو باشرفه مسلمانو زوريدلو خلكو په‌پوره ملاتړ ددی بدبختيو اوگهوډيو دله منځه وړلو لپاره خپل دينی اوملی رسالت ترسره كاندي اويه افغانستان كی يوه سراسری سوله ترسره كړی څوخلك له دی بدبختيو څخه نجات ومومي.

دافغانستان اصلی وارثان او رښتينی مسلمانان ، افغانستان دافغانانو اواسلامی نظام لپاره غواړی اوددی ارمان دپوره كولو لپاره دوي دطالبانو داسلامی تحريك ترشا ولاړ دي.

نن سبا چی په كومو سيمو كی ددطالبانو اداره ده دومره امن دی چی يو افغان تجار راته كيسه كوله چی دهرات څخه راتلم ا.به كوټه باندی راتيريدم پولك ډالر می په جيب كی ايښی ووبه يو ځای كی د تالاشی ضرورت شو هلته بی دتالاشی‌په ترځ كی ډالر زما دجيب څخه راوويستل خپله اشتباه يی وويسته اوډالريی راته بيرته په جيب كی كيښودل او وی ويل چی موږ د ډالرو وړی نه يو موږ دافغانستان دخلكو آرامی اوسوكالی غواړو.څوكابل د اداري او دهغې دمتحدينو په لاس ورغلی وای نو بيا به يې دځان حال ليدلی واي.

خدای «جل جلاله» دی وكړی چی دا كاروان دخپلی وينا اويااليسی‌مطابق دمقصود منزل ته ورسيږی او دافغانستان زوريدلی ،دردبدلی خلك ددی آوارگی او دربدری د ژوند څخه دخپل رب په مرسته خلاص كړی اودخلكو دپوره نجات وسيله شي.

كی بود تامهك تجربه آيد به ميان
تاسياه روی شود آنكه دروغش باشد

په پای كی وايم چی خدای «جل جلاله» دی دخپل حبيب په روی دهر هغه ، حاسره يار اومدده گار شی چی دزړه لـ[illegible] سوهی په افغانستان كی داسلامی نظام او دافغانستان دمسلمان ملت دارامی‌اوامن سره علاقه لري.

ومن الله التوفيق

دهغه هدف دخدای «ج» رضا وه نه دمقام ترلاسه کول

ابوامان

هغه چې په هیواد کې دمقدس جهاد تر پښې بري ورووسته پوځل بیا توپك له اوږي شکته کړ اوله کتاب اوقلم سره دمدرسي په دروازه ورننوت نو ایله بې فکر ارام شو او دخدای «جل جلاله» شکر یې ادا کړ چې دکفر اوالحاد په مقابل کې یې سربښندنو اوقربانیو نتیجه ورکړه اوددي موقع په لاس ورغله چې یوځل بیا دعلم اوپوهې د ترلاسه کولو لپاره مدرسي ته ځان ورسوي او دخپلو استادانو دعلم له رڼا څخه فایده ترلاسه کړي.

مدرسي ته له بیرته تلوتو څخه دومره ډیره موده نه وه تیره شوي چې هغه یوځل بیا دي ته اړشو چې کتاب اوقلم کېږدي او ددوهم ځل لپاره په هیواد کې دظلم او فساد دله منځه وړلو لپاره توپك راواخلي. هغه یوځل بیا له یوه ستر ازموینت سره مخامخ شو ځکه داځل یې له هغه چا سره مقابله پیل شوه چې پرون ورسره اوږه په اوږه د روسانو په مقابل کې جنګیدو او دیوه هدف لپاره په یوه سنګر کې ورسره پروت و، خو چې دده دجهاد پروني ملګري خپله لاره بدله کړه او داسي کارونو ته یې لاس واچاوه چې اصلاً دچاپه فکر کې هم نه ګرځیدل، ځکه خو نو دده لپاره لږ ګرانه وه چې دخپل پروني مجاهد په مقابل کې به څه ډول چلند غوره کوي.

هوا هغه مجبور و چې داځل خپلو مسلمانو هیوادوالو ته له ظلم، فساد څخه دنجات په غرض دمبارزي ډګر ته راووزي، وجنګیږي، هلې ځلې وکړي او که لازمه شوه له خپل سرنه هم تیر شي. خوخاص د خدای «جل جلاله» د رضا لپاره اوخاص د خدای «جل جلاله» دبندګانو دخدمت لپاره، نه په دځان لپاره مقام غواړي، نه منصب اونه شهرت.

خو چې کله دهیواد په یو لړ ولایاتو اوسیمو کې دظلم اوفساد ځالي ونړول شوي اوپرځای یې اسلامي عدالت ټینګ شو. نو هغه وخت هم راورسید چې دیوه ولایت دوالي په توګه هغه ته وویل شي او وظیفه ورکړل شي چې ځان هغه ولایت ته ورسوي او دهغه ولایت د والي په توګه چاري سمبال کړي.

ددي خبر په اوریدو سره دهغه له سترګو نه اوښکي رواني شوي او خدای «جل جلاله» ته د زاري په سجده پر یوت، وې یې ویل خدایه! زه خو ستا غریب بنده یم، ماخو یوازي اویوازي ستا د رضا لپاره اوستا دبندګانو د خدمت لپاره مدرسه پرایښې ده، زه په ځان کې ددي توان نه ګورم چې دیوه ولایت چاري دي سمبال کړم. خدایه! ته زموږ دمشرانو په زړونو کې زما دتقرر دتصمیم اراده بدله کړي. لوبه خدایه! زه ستادبندګانو په خدمت کې له ډیر لږ تقصیر څخه هم وارېږم، نو که چیري د ولایت دچارو په پرمخ بیولو کې مي لږه پښه هم وښوییږي، نو ستا په حضور کې دځواب دورکولو طاقت په ځان کې نه وینم.

هوا هغه یوځل بیا دلومړیو شپو ورځو کارنامي راژوندي کړي. هغه دا په اثبات ورسوله چې طالبان د چوکۍ اومقام لپاره نه بلکي د خدای «جل جلاله» پرځمکه د خدای «جل جلاله» دقانون دحاکمیت لپاره راپورته شوي دي او هغه دا ثابته کړه چې دطالبانو داسلامي تحریك مسئولین، غړي اوعام افراد خپله ګټه یوازي اویوازي دخپل مسلمان ملت په ګټه کې ګڼي اوهدف یې یوازي اویوازي دادي چې خپلو مسلمانو خلکو ته خدمت وکړي نه داچې کومه چوکۍ اویا مقام تر لاسه کړي.

دطالبانو اسلامي تحریك بریالیتوبونه اود منافقینو منفي اعمال

صادق

دلوی خدای «جل جلاله» طریقه چې دحق دلاري پیروان په کله کله له ازموینې، ابتلا اومشکلاتو سره مخامخ کیږي، څو دحق دمبارزې دغه بهیر دازموینې اوابتلاء له مختلفو مرحلو نه په تیریدلو دمقصود پراوته ورسیږي اوپه دې توګه دوی دخپل خدای «جل جلاله» اومسلمان امت په وړاندې سرلوړي او اتلان راووزي او دنورو دپاره دجهاد اومبارزې په ډګر کې دنیکۍ اوحسنه اسوې ځلانده کرښلاره پریږدي.

داسلام دلومړنیو وختونو ستري پیښې، لکه دبدر ایماني څرګند بری، داحد بری اوماتې، دحنین واقعه، او دحدیبیې دسولې د شرطونو په منلو سره په ظاهره، داسي پیښې دي چې دازموینې اوابتلاً له سختو ژوندو څخه وتلې دي اونن موږ ته داسلامي جهاد په ډګر کې د لوړو اوژورو، سړو او تودو ناکامیو اوبریالیتوبونو په اړوند نیکه اوحسنه اسوه ده.

په افغانستان کې دکمونستانو او ددوی دبادارانو روسي استعمارپه خلاف اسلامي جهاد چې ددیني عالمانو په فتوی «دیني طالبانو اومخلصو مسلمانانو په سر ښندنه پیل شو اود لوی خدای «جل جلاله» په مرسته د روسانو اوکمونستانو په بشپړه ماتې سره پای ته ورسیده، دلوی خدای «جل جلاله» ستر احسان او چې ددغه اسلامي انقلاب په پاك سانلو سره مویابد دالله تعالی شکر ادا کړي وای اوپه ثنا، تسبیح او استغفار باندې مولا خدای «جل جلاله» څخه دجهاد په دوران کې دکړو نواقصو بښنه غوښتې واي. خوپه دې باب کړنلارې بدلې شوې، دیني طالبانو اوعالمانو دتسبیح او استغفار لاره ونیوله بیرته خپلو مدرسوته ستانه شول او ددین په زده کړې دالله شکرانه ادا کوله. داسلامي حکومت چارې یې دجهاد مشرانو ته پریښودې. اوځینې جهادي مشرانو اوقوماندانانو بیا دا هرڅه هیر کړل، دمادي قدرت دترلاسه کولو دپاره یې بیرته له کمونستانو، بې دینانو او فاسقانو سره لاسونه ورکړل په خپل منځي جګړو یې ییل وکړ وطن یې تباه کړ، دخلکو سر، مال اوعزت یې تالا والا کړ، هر ډول ګډوډۍ او انارشۍ یې رامینځ ته کړه دمسلمانانو هیلې یې په ناهیلو بدلې کړې اوداسلامي جهاد ثمري یې له خطر سره مخامخ کړي.

دافغانستان دیني طالبان اوعالمان چې دجهاد مؤسسین و داسلامي جهاد د ژغورلو په خاطر بیرته له مدرسو څخه راټول شول دخدای «جل جلاله» اودملت په مرسته یې یوځلې بیا دفساد په خلاف دجهاد میدان ته راودانګل. په لږ وخت کې یې دګران افغانستان زیاتې سیمې ددغو پاټکیانو، ټوپکیانو اولاروهونکو له ولکې څخه خلاصې کړې اوپه ټول شوو سیمو کې یې له امنیت نه ورووسته اسلامي شریعت پلې کړ، په دې توګه دطالبانو اسلامي تحریك دافغانستان اواسلامي جهاد دناجي په توګه دقومي مشرانو، فرهنګي عالمانو، سیاسي مدبرانو اوعامو خلکو له خوا تائید او دامیدونو ورووستې کړې ویلل شو. په فتح او بری باندې یې هر افغان مسلمان خوشحال او خوښي څرګندوي.

خو دمفسدینو، منافقینو دښمنانو وضیعت داسي نه دی، هره ګړۍ دصدر اول دمنافقینو په شان داسلامي تحریك په غلطي اوناکامۍ پسې سرګردان وي، کله چې دطالبانو له اسلامي تحریك څخه څه ستې پیښه شي اویا چیرې له ناکامۍ سره مخامخ شي نو دغه منافقین اومفسدین ډیر خوشحاله وي اویو بل ته بشارتونه ورکوي په اخبارو کې یې معنی تبصرې لیکي اوخپلې تیزې ژبې دمسلمانو مجاهدینو پرخلاف چلوي لوی خدای «جل جلاله» فرمایي «کله چې خوف لاړ شي نو دامنافقین مسلمانان په خپلو تیزو ژبو چیچي او دوی بخل کوونکي دي په مسلمانانو» (احزاب - ۱۹)

پر مسلمانانو چې کومه فتحه اوکامیابي راځي نو دوی پرې خفګان څرګندوی نوهمدا حال دهغو خلکو دی چې داسلامي حکومت او یو متحد افغانستان جوړولو په لاره کښې یې خپل ناروا وجود یوځنم ګرزولی دی بشلان او ورور مواقف لري.

یو وخت په واګه وایې چې موږ دهغه چاسره چې خپل موجودیت یې دهند او روس په اتکا، دی دیوی دقیقی دپاره نشو کیناستلی بل وخت هغو خلقو ته ورځي اودهغو ترقوماندي لاندي دي. او هغه هندي او روسي مرستې د زړه له کومې اخلي! یووخت داخلك دهیواد عام اوساده خلك په دې بهانه جنګوي او وژني یې چې اسلامي حکومت غواړي او بل وخت دهغو دقاتلانو سره د وروورولۍ لاس ورکوي. دلته پوښتنه راپیدا کیږي چې هغه افراد چې د وروورولۍ څخه محکۍ په دښمنۍ کې وژل شوي دابه دشریعت له خوا څه حکم ورکولی شي؟

یووخت خلك په توغندیو ولی اوداخپل شرعي حق ګڼي اوبل وخت بیا توغندي وشتونکي محکوموي او کله بیا هم دقدرت په میته کې دا هرڅه ورڅخه هیر شي سابقه فشواوي سابقه وعدي سابقه مبارزې یې له حافظې څخه ووزي، په خپل کلك دښمن باندې په یتو سترګو مخه ږیږیې اودهغه ښار په لوړ روان شي چې هرڅه یې دده دتوپونو په واسطه له منځه تللي. آیا دي یې تباه شوي ده. دا فکر نه کوي چې اخیر دغه ښارخو ده تباه کړی دی، ددغه ښار اوسیدونکي خوده وژلي دي د یوه صدراعظم په توګه یې څومره خدمت ورته کړی څرنګه تعمیرونه یې ورته جوړ کړي چې نن خوده ته هیڅ روغ تعمیرپه سترګو نه ورځي!! البته دا باید ووایو چې په دی کار کی داخلك یواځي نه دي، دکابل داداري واکدارانو چې کابل دکمونستانو ځاله ګرځولی وه.

مناسب خو داده چې نور داسي وګړي چې ملت ته مخ نه لري دسیاست په پرده افغان اولس ته مخ راڅرګند نه کړي اونور درانده په قراره کښیني او پریږدي چې اسلامي تحریك خپل دکامیابۍ پړاو ته ورسیږي ترڅو دنیول شوو ولایتونو په شان په ټول افغانستان کې اسلامي شریعت تطبیق، امنیت تأمین او داسلامي جهاد دشهیدانو ارمانونه په ګران هیواد افغانستان کې په بشپړه توګه پوره کاندی اوهیواد داسلامي دولت تر سیوری لاندې په ترۍ کې سرلوري کړي.

د ازغو په څوکو

ملا اسدالله حنیفي

طالب مزلونه لنډوي ځي د ازغو په څوکو

سپین بیرغونه دروی دجګو غرو په څوکو

دالهي نظام دپاره په نورسه ځواني

ځان غورځوي دسپینو تورو د برچو په څوکو

دهاشمي جانان ددین دحفاظت دپاره

لمبه لمبه شو دباروتو دلمبو په څوکو

د اسلام شمع بله ساتي دتمر په وینو

دفساد جرړي پرې کوي دتکبیرو په څوکو

څومره په منډه منډه تله کړي دبري په طرف

لکه شاهین چې کړي غورځنګ دګړنګوپه څوکو

راځي راټول شئ ورته دود کړو سپیلنی په بسره

چې نظر نشي د بد سترګو دبنو په څوکو

حنیفي وياړي دطالب په شجاعت ملګرو!

چې ژرژر خیژي د ظالم د سنګرو په څوکو

پیښور ۱۳۷۵/٦/۲۳ هـ ش

مرام

حبیب الله رفیع

په ځای کې کیناستل اویوه لحظه غافلیدل

لوی جرم یې ګڼي چې څوك قیام لري په مخکي

په دار باندي زنګل لکه په ټال باندي زنګل دي

هغوی ته چې هدف لري، مرام لري په مخکي

دلستوني مار

بل کاري ګوزار پری وکړئ پری یې نه ږدئ

پاس پرسر یې چې خوړلی دا ګوزار دی

خپلواکي نعمت ته نه شئ رسیدلی

څو ژوندی را دلستوني دمنځ مار دی

د ادب ملغلری

قیام

د مژده دغه شعر د وحیدالرحمن اخندزاده په خوښه

ستم اباد این بغما ګران زیر وزبر باید

بجایش ساختن دنیای دیګر را زسر باید

قفس جولانګه پرواز شاهین کی توان ګردد

ترا ای تیزپر، میدان جولان دګر باید

به جنګ شب کمر بستیم پیمان با سحربستیم

کفن باخون رنګین باید واین شب سحر باید

بهای اندکست تقدیم جان در راه ازادی

قدم در کوی جانان چون نهادی ترك سر باید

بقای ماووحدت رابهم پیوند پابر جاست

طریق اختلاف هر کس رود خاکش بسر باید

تحزب همدلي ها راشکست وبهر پیوندش

تلاش وعزم پولادین وسعي پرثمر باید

نه هرکس درجلو افتاد راه رهبر داند

امامت مرد تقوی باید واهل بصر باید

چه داری باك ګرآماج تیر از شش جهت ګردي

بلب ثاهت تکبیری، پذیرای خطر باید

وګوري

عبداللطیف «نثار»

وګورئ خلکو هر سنګر کې طالبان وګورئ

په غرو دښتو لوړوغرونو داغازیان وګورئ

چې دپانك ټغرئي ټول کړ له هیواده څخه

جاري شرعیت ئې په کندار هم په میدان وګورئ

دلوګر دښتي اوییدیاوي زرغوني ښکاریږي

سپیني جنوي په لوړو څوکو دپغمان وګورئ

چې دخالد بن ولید په پله یې پل ورکیښود

په هر سنګر کښي موږمړي «ملابورجان» وګورئ

چې دښشاد په لوړو څوکو امن سوله راغله

دننګرهار کړ په خواکي بل لغمان و ګورئ

دکړونو په درو کې تکبیرونه اورم

دحق جګړه کې تل کامیاب مسلمانان وګورئ

نن غلامي بیا په «نظار» باندي سپارلي مسکو

په نږدې ورځو کي ئې ورك ټول شیطانان وګورئ

که خدای کول شریعت به راشي اي «نثاره» ګوره

خوله تريږکښي به سرهسك افغانستان وګورئ

نصرت الهي

محمد همایون «فیضاني»

چې په زړه کښي ئې ایمان او صداقت وي

همیشه به ترې خوشحاله ټول ملت وي

کامیابي دهغه چاپه نصیب کیږي

چې قانون الهي دچا خدمت وي

ارادي به تل ویجاړي دفساد کړي

چې تحریك یې تل ژوندي په حقیقت وي

دملت ارزو به هله پوره کیږي

چې پر سرئي سپین بیرغ دشریعت وي

په اخلاص او صداقت کي کامیابي ده

په دي لارکي دالله پاك لوي حکمت وي

همیشه به دالله شکر ګذاریم

چې ترغوږ مي اوازونه د نصرت وي

فیضاني به شکرانه ددي نعمت کړم

چې هروخت مو مددګار رب العزت وي

دلوی ننګرهار د وروستیو تحولاتو په اړه دافغانانو نظریات

په لوی ننګرهارکی د وروستیو مثبتو اوالهامو تحولاتو اغیز اوتائیر نه یوازي دګران هیواد په داخل کی بلکی له هیواد څخه بهر پراوسیدونکو افغانانانو هم پریولی اودغه تحـولات یې دهیواد دراتلونکی ارامی اوسوکالی لپاره یو نیك او ګټور فال بللی دی، موږ په دی ګڼه کی غواړو دهیواد دیوشمیر مشرانو، پوهانو اوعالمانو هغه نظریي د درنو لوستونکو دمعلوماتو لپاره راواخلو چې په دی برخه کی یې وړاندی کړی اودغه تحولات یې مثبت ارزیابی کړی دي.

دافغانستان دملي اسلامي محاذ مشر محترم پیر سیداحمد ګیلاني دلوی ننګرهار وروستي تحولات مثبت بللي اوخپل نظر داسي څرګندوي:

«۳،۲ و جلال آباد ته دطالبانو تلوتل دوه سببه لري: یو دجهادي شوری خپل منځي اختلافات اوبل دخلکو بیزاري او نه رضایت و، شوری ددی لانجو له امله ورځ په ورځ کمزوري کیده اووضع هم نوره دخلکو لپاره دزغم وړ نه وه، طالبانو چې کومې سیمې نیولي هلته یې یومهم کار داکړی دی چې امنیت یې راوستی، دخلکو عزت اوابرویې ساتلی ده.»

جناب لقمان مجددی در مورد تحولات اخیر ولایات شرقي کشور ګفتند:

ملت مسلمان افغان آرزو مند حاکمیت شریعت غرا محمدی «صلی الله علیه وسلم» بوده وغرض برآورده شدن این مقصد دو دهه مصروف جهاد ومبارزه بودند که الحمد لله که با رونما ګردیدن تحریك اسلامي طالبان این مقصد علیا وارزوی ملت مسلمان افغانستان تحقق یافت. دست اورد های بزرګ تحریك اسلامي طالبان در ولایات شرقي کشور برای ملت مسلمان افغان یك فتح بزرګ است وما امیدواریم که این پیروزیها یك قدم بزرګ بطرف فتح کامل کشور عزیز بدست قوتهای تحریك اسلامي طالبان وپیاده کردن نظام واقعي اسلامي ونفاذ شریعت محمدی «صلی الله علیه وسلم» در کشورباشد. دهیواد پخواني عدلیه وزیر اوصدارت مرستیال محترم سید شمس الدین مجروح وایي: «دطالبانو دچټك پرمختګ دلیل دا و چې خلك دتنظیمونو اومسلطي وضعې نه ناراضه اوپدلون غوښتونکي وو، تنظیمونو په خپلو عملونو سره په خلکو کی خپل محبوبیت، حیثیت اوقوت له لاسه ورکړ، خلك دسولي، امنیت اومرکزي حکومت دجوړولو لاره لټوي اودحالاتو دمثبت بدلون هر کلی کوي. په جنګ، جګړو، وهلو او ټکولو مسئله نه حل کیږي بلکي دخپل منځي تفاهم اونمایندو جرګی په ذریعه حل وفصل کیدلای شي.»

د امریکا دپاورټنګ دکالج استاد محترم انورالحق «احدي» خپل نظرداسي څرګند وي: «په تیرو څلورو کلونو کی هیڅ افغاني نظامي ولي ددولت جوړولو شرایط نه وو برابر کړی، په دی معنی یا خوبې په لویه منطقه باندی تسلط نه درلود اویاخو په خپل قلمروکی ددوی اوامر نه تطبیقیدل. خو اوس طالبانو ددولت جوړولو ضروری شرایط تقریباً ترلاسه کړي، طالبانو اوسمهال نیم نه زیات هیواد نیولی اوپه خپل قلمرو کی یې امنیت ټینګ کړی اوداسي ښکاري چې ددوی ټول والیان دمرکز اوامر مني. په دې اساس که چیري طالبان دکابل ښار ونیسي، نو دوی به وکړای شي چې یو واقعي دولت جوړ کړي دتیرو ورځو نظامي اوسیاسي انکشافاتو ددې امکان قوی کړ چې طالبان بالاخره کابل هم ونیسي.»

دافغانستان داصلاحي شوری مشر محترم داکتر فاروق اعظم وایي: «په لوی ننګرهار کی دطالبانو وروستیو پرمختګونو دافغانستان دبحران دپای ته رسولو لپاره نیه لاره اواره کړي او استاد رباني اوس هم وخت لري چې په افغانستان کی دوینو دزیاتو بهیدلو دمخنیوي لپاره قدرت خپل اهل ته انتقال کړي.»

دافغانستان دتفاهم اوملي یووالي دشوری منشي او دسر پل ولایت داسحق زیو دقام مخور محترم مولانا محمد شریف اسحق زی خپل نظر داسي څرګند کړ:

«دلوی ننګرهار وروستیو تحولاتو داوښوده چې د برچې په زور حکومت کول امکان نه لري. دملت د ارادي پرخلاف عمل نتیجه نه ورکوي اوپه وچ زور پرملت باندي دخپل نظر منل له امکان څخه لری خبره ده، نو دکابل اوسنۍ انتلافي اداره باید تردې زیات په هیواد کې دوینو توئیدو بهیر جاري ونه ساتي اوقدرت دسپارلو په نتیجه کې دهیواد موجوده بحران پای ته ورسوي.»

دهیواد نامتو شاعر اوقامي سپین ږیری محترم عبداله غمخور داسي ووېل: «افغانان ترهرڅه زیات په خپل هیواد کې امن اواستقرار ته ضرورت لري.

ځکه دهیواد بیا ودانول اودټولنیز ژوند پرمختګ اوسیاسي ثبات ترهرڅه دمخه امن اواستقرار ته ضرورت لري چې دطالبانو بری هم په همدې ټکو کې نغښتي دی ځکه چیري چې طالبان تللي دي هلته یې امن راوستلي، دظلم اوفساد عوامل یې له منځه وړي اوپاټك سالاري یې پای ته رسولې ده، موږ په ننګرهار کې ددوی دوروستیو بریالیتوبونو له امله نه یوازي خوښ یو بلکي دکابل په لور ددوی د زیاتو پرمختګونو لپاره دوعا کوو، که څه هم شاپي یو لږ خنډونه به په مخکي پراته وي خو هیله ده چې هغه خنډونه به هم له منځه ولاړ شي.»

محترم مولوی شادګل «رشیدي» استاد پوهنځی شرعیات پوهنتون احمدشاه ابدالي نظر خود را چنین اظهار میدارد: «تحولات آخر در ولایات مشرقي ازطرف تحریك طالبان بدون ریختن خون مردم بی ګناه در شرایط فعلي سعادت مردم ولایات مشرقي افغانستان میباشد، زیرا در جائیکه تنفید شریعت الهي باشد، ساکنین آن زمین نظر به دلایل فلسفه اسلام با سعادت بشمار میرود، بنابرین از بارګاه خداوند متعال امیدواریم که نفاذ شریعت در زود ترین فرصت این تحریك اسلامي طالبان در سراسر افغانستان عملي ګردد وانشاء الله عملي خواهد ګردید.»

دهیواد نامتو لیکوال، شاعر، محقق اومؤرخ محترم حبیب الله (رفیع) دلوی ننګرهار دوروستیومثبتو تحولاتو په اړه خپل نظر داسي څرګندوي:

«له روسانو اوکمونستانو نه دافغانستان تر ازادۍ وروسته دافغانستان دمسلمان اواتل ملت ټولې هیلي دهیواد له ارامۍ اوآبادۍ سره تړلي دي اودا هیله هغه وخت تر سره کیدای شي چې په هیواد کې خوري وري وسلې یوه مرکز ته راغونډې اودافغانستان په ګوټ ګوټ کې واړه من امنیت ټینګ شي. دطالبانو اسلامي غورځنګ چې له دوه نیمو کلونو راهیسي دوحشي وسله والو په وړاندې دعکس العمل په توګه رامنځ ته شوي، پخپلو سیمو کې یې دافغان مسلمان ملت نه د واومن امنیت امتحان ورکړي له همدې امله څومره چې ددې غورځنګ د واکمنۍ لمن پراخیږي هماغومره خلك دخپل سراومال دخوندي کیدلو په برخه کې ډاډه کیږي اویوه دې چې ددوی مبارزه لکه دنورو ډلو غوندې دشخصي مقام دټینګښت لپاره نه بلکې داسلامي نظام دټینګښت لپاره ده نو له دې امله ټول ملت دطالبانو داسلامي غورځنګ دلوی ننګرهار دوروستیو تحولاتو له امله خوښي دي اوهیله لري چې ډیر ژر زموږ پرهیواد مسلطي دوړي وري ملوك الطوایفي ولکې اوپه هیواد کې یو داسي ملي اسلامي حکومت ټینګ کړي چې دافغانستان ملي وحدت ملي ګټې اوملي خپلواکي خوندي کړي، زه پخپل وار د مشرقي ولایتونو مثبت تحولات دافغانستان د ارامۍ او ابادۍ په لور یو نیك قدم ګڼم.»

دننګرهار دخوګیاڼیو دغونډ قوماندان محترم عبدالمجید خپل نظر داسي څرګند کړ:

«کله چې دروسانو اودهغوی دغلامانو په مقابل کې دافغانستان دټول مسلمان ملت په ملا تړ جهاد پیل اوبیا بری ته ورسیدنو، هیوادوالو تمه درلوده چې په هیواد کې به اسلامي نظام اوامنیت ټینګ شي، خو له بده مرغه دا ونه شول، نو په دې اساس یوه داسي حرکت ته ضرورت و چې دغو اهدافو ته تحقق ورکړي، نو دهمدغه اصل له مخې دملت له منځ څخه دطالبانو حرکت پیل او ترننګرهار پوري راورسید، نو داچې ددغه ارمان دپوره کیدو هیله ورسره ملګري وه نو دلته یې هم مسلمانانو او دیندارو خلکو لکه دنورو هیوادوالو په شان هر کلي وکړ اوبرته له دې چې وینې توئې شي دسیمې بشپړه اداره دطالبانو داسلامي تحریك ځواکونو ته وسپارل شوه او هیله لرو چې دننګرهار وروستي تحولات دکابل دنیولو لپاره لاره اواره کړي.»

دافغانستان دقضیې په هکله د «پاکستان داسلامي جماعت» یوطرفه دریځ او مهلکانه مشوروته یوه لنډه کتنه

لیکوونکي: صدیقي

دافغانستان دجهاد په دوران کی دنړۍ ډیری خبریه اداری دافغانستان له مظلومو خلکو سره مرستی کړی دی چې دهغوی له جملې څخه دپاکستان «جماعت اسلامي» دیادونې وړ دی، دغه ولې زموږ له خلکو سره داسي مرستی کړی دی لیکن که دی کومکونوته په دقت وګورو نو یولړ شکونه راپیدا کوي.

دغه ګوند چې دمجاهدینو په نامه یې دپاکستان له داخل اوخارج څخه کومکونه جلبول نودهغو زیاته پیمانه به ئي حزب اسلامي ته ورکول چې ګویا مجاهدین یواځې همدوی دي.

اوکه سیاسي مرستو ته نظر وکړو نو دجهاد دپیل نه تر نن ورځې پوري ددوی سیاست یو طرفه ؤ، اودا ځکه چې دوی ددي پرځای چې ټولو مجاهدینوته یو نظر وګوری دخپلي مدرسي شاګرانوته ترجیح ورکړه او یواځې یې هغوی مجاهد بلل، بلکې دبعضو ګوندونو اسلام ته به ئي هم دشك په نظر کاته ځکه هیڅکله کی دانه ده ثابته شوی چې قاضي صاحب یا میاں صاحب محمد طفیل دمولوی صاحب محمدنبي، مجددی صاحب یا پیرصاحب په کومه غونډه کې ګډون کړی وي.

د رباني دحکومت له جوړیدو سره ددی پرځای چې دمجاهدینو دیو ځای کیدو کوښښ یې کړای وای اویا کم ترکمه سکوت یې اختیار کړی وای، حکمتیار ته ئې مشوره ورکړه چې دوستم ته کافر ووایه اوده، اورباني په مقابل کی دجهاد اعلان وکړه، حکمتیار صاحب ده ته د ریښتونی قاضي په کنټلو فورا دده په مشوري باندی عمل وکړ او ددی خبري دلیل داهم کیدای شي چې په هغو ورځو کی به قاضي صاحب دحکمتیار په شان په دوستم دکمونست حکم لګاوه چې مطبوعات په دی ګواه دي.

اوکله چې قاضي صاحب پوه شو چې دده شاګرد په دی لاره قدرت ته نشي رسیدای نو ورته یې مشوره ورکړه چې خپل دجهاد اعلان فسخ کړي اوهغه تاپه په رباني اومسعود ولګوي اودافغانستان دخرابیدو ذمه په روس، هندوستان او ائتلافي اداره واچوي چې دقاضي صاحب ددی مشوري په عملي کولو حکمتیار کابل لوټی لوټی کړ.

هغه وخت چې دطالبانو اسلامي غورځنګ په خپله ایماني قربځه راپورته شو اوپرمختګ یې وکړ نو دقاضي صاحب دګوند وارخطا شو چې څنګه موږ دومره قرباني ورکړه خو قدرت دحنیفي علماؤ لاس ته ورشي، نو په نابیرې توګه ئې دنه کولو کار وکړ، پکار خو دا وه چې دا دحزب اوجمعیت د یوځای کیدو مشوره یې دروسانو اودهغوی دمستقیمو ګوډاګیانو دحکومت په وخت کی ورکړي وای ترڅو په هغه وخت کی زرګونه کسانه په ذات البیني جنګونو کښې نه وژل کیدو بلکې په مقابل کی به روس څوکاله مخکې ماته خوړلی وه. او یا به ئې هغه وخت دامشوره ورکړي وه چې رباني په تخت کیناست چې له یو خوا به بې ګناه خلك نه و وژل شوي او له بلي خوا به ددوی دحکومت چانس برابر شوی وای.

لیکن دقاضي صاحب ته دا فکر هغه وخت پیدا شو چې په افغانستان کی دصالحو خلکو په لاس د اسلامي حکومت دجوړیدو تمه پیدا شوه او داځکه چې قاضي صاحب او دهغه انډیوالان هیڅ یو داسي حکومت منلو ته تیار نه دی چې دوی ئې په رأس کی نه وي (دابي تفاوته ده چې اسلامي وي اوکه نه) نو دا ولې ئي داسي وخت کی سره یو ځای کړي چې په یو ځای کیدو یې د اور لمبه زیاته شوه او قاضي صاحب په وار وار اورته لمن واهله.

پکار خو داو چې قاضي صاحب ددوه ګوندیز ائتلاف په ځای هر اړخیزی سولې لپاره کوښښ کړی وای ترڅودافغانستان دمسئلې یوهیشیادی حل رامینځ ته شوی وای لیکن داسي ئې ونه کړل اوس چې دکابل اداره یوځل بیا دنسکوریدو په حال کی ده دافغانستان اوپاکستان دخلکو دتوقع په خلاف دکابل دائتلافي اداري ننګه کوي اوپه طالبانو پسې یې دنیوري غږول شروع کړي دي لکه ځنګه چې دجمعې دورځې په اخبارونو کې د «جماعت اسلامي» دسرحد دایالت مشر پروفیسور ابراهیم صاحب جوته کړه چې د طالبانو قوماندانو دنصرالله بابر په لاس کی ده، طالبان دتورخم دلاري جلال آباد ته داخل شول او دننګرهار دقوماندانانو دوژل کیدو مسئولیت دپاکستان په غاړه دی موږ ته پوهیږو چې داوله په کوم اساس دهندوستان او دهغوی دګوډاګیانو سیاست غوره کړی دی او داځکه چې څه موده مخکې دپاکستان څوکیږي ولی مشر دهندوستان دخوشحالولو لپاره همدا خبره په پارلمان کی کړی وه چې دطالبانو قوماندانه دنصیر الله بابر په لاس کی ده. چې ځواب یې زما په خوله نه راځي اودوهمه خبره چې طالبان دکومی لاری څخه جلال آباد ته داخل شول، داټولي نړۍ ته معلومه ده چې د حصارك تر نیولو وروسته په مسالمه لاره راغلل. لیکن فکر کوم چې پروفیسور صاحب غوږونه کاڼه او سترګي دواړه پټي کړي دي اوپواځې دکابل دحکومت ږولی غږوي اوبس.

او دریمه دقوماندانانو د وژل کیدو عامل هغه کس و چې ټولو خلکو ته معلومه شوه چې دهغه په خوله یې دخپل ورور انتقام واخیست نو دی نسبت پاکستان حکومت ته کول یې ځایه تور دی. او که اصلي محرك اوانګیزه په نظر کې ونیسو نو هغه ګوندونه ته ترجیح ورکولای شو چې داعمل دحکمتیار صاحب (پروفیسور صاحب عقیدوی اوسیاسي ورور) دمشوری په اساس ترسره شوی او ددې دثبوت لپاره غټ دلیل دادی چې وژل شوی کسان هغه وو چې دطالبانو حمایت ئې کړې ؤ اوبل دا چې دحکمتیار صاحب دګوند قوماندان (فضل حق مجاهد) ئې په ډیر سترګو خوشي کړ او نور ئې ووژل.

په آخر کی دپاکستان اسلامي جماعت ته دورووری عرض کوم چې نور دی دافغانستان خلکو په زخمونو باندی مالګه نه دوروی اوپری دی ږدی چې دافغانستان مسلمان ولس په خپله خوښه یو سوچه اسلامي حکومت جوړ کړي.

والسلام

له جرمني څخه هرات ته دمهاجرينو دبيا مېشته کولو په خاطر يو هيئت راورسيد

له هرات څخه زمونږ خبريال حبيب الله خبر راکوي هيئت دهرات له محترم والي ملا يارمحمد اخوند سره په داسې حال کښې وکتل چې دهرات ولايت دخارجه چارو د ارتباط مسئول محترم ملانور محمد هم په دې کتنه کښې لومړي محترم ملايارمحمد اخند له هيئت څخه مننه وکړه چې دوې دمهاجرينو دخدمت په اړوند زيار ګاللې اوله هغوي سره بې دسرپنا ځاې او دژوند دمعيشت مرسته کړې ده.

هيئت دهرات له محترم والي څخه هيله وکړه چې په جرمني کې دمهاجرينو د راستنېدو لپاره داسلامي تحريک تر واک لاندې سيمو کښې سهولتونه برابرکړي دهرات محترم والي ورته دهرډول مرستو او اسونګتی ځاېونو ډاډ ورکړ.

دهيئت ددي پوښتنې په ځواب کښې چې دبېځښه شوونځيو په هکله ددوي څه خيال دي دهرات محترم والي ووبل : مونږ دتعليم اوزده کړي مخالف نه يو خو اوس حالات اضطراري دي دحالاتو اوشرايطو د سمون په صورت کښې به مرستې وکړو

هغه با صلاحيته هيئت چې د اداري کميسيون د رئيس محترم ملا نورالدين (ترابي) په مشري د زابل ولايت ته تللي و بيرته کندهار ته ورسيد

هيئت په تومسوري ولايت کې : اداري اونظامي ارګانونو له مسئولينو سره وکتل اوهم ئې دهغوي اجرأت له نژدي ولېدل.

خبرګاې زياتوي چې د زابل ولايت والي محترم مولوي عبدالحکيم (شرعي) او د ادارو مسئولينو دغه باصلاحيته هيئت ته دخپلو اميراتو رپوټونه وړاندې کړل اودمشکلاتو دحل په اړه ئي سنړونه . . .

محترم ترابي دهغوي دستونځو دحل وعده ورکړه او له هغو له مسئولينو څخه ئې مننه وکړه چې خپل اجرا ئې په ښه ډول سرته رسولي دي.

دغه با صلاحيته هيئت ترخپل دوه ورځو کار اوکنټرول وروسته بيرته کندهار ته ورسيد.

دهرات تنظيمه رئيس داوبي دولسوالي اداري او عمراني چاري وکتي

له هرات څخه دشريعت خبريال ملا حبيب الله سعيد خبر راکوي چې تنظيم رئيس ملا برادر اخند داوبي ولسوالي ته ولاړ اوهلته يي د ولسوالي له ولسوال مولوي نعمت الله اخند زاده او دېښتون زرغون له کليوالو او علماوو سره وکتل.

تنظيمه رئيس په خپلو خبروکي ووبل چې « مونږ اوتاسي داسلام دخدمت دپاره . . .

په جلال آباد بانديي دائتلافي اداري جت الوتکو بمباري وکړه

شپږ تنه بي ګناه ښاريان شهيدان او ۲۵ تنه زخميان شول

له جلال آباد څخه زمونږ خبريال ملا محمد عثمان خبر راکوي چې ديکشنبي په ورځ دکهيځ په اتو بجو اوشلو دقيقو دکابل ائتلافي اداري جت الوتکو دجلال اباد په قصر اوهوايي ډګر بمونه وغورځول

ددغي بمباري له امله شپږ تنه بي ګناه ښاريان شهيدان او ۲۵ تنه زخميان شول.

مونږ په ټول افغانستان کې . . .

يونيم ميليون شهيدانو ارمانونه پوره شي، په هيواد کې اسلامي نظام او داسلامي نظام په سيوري کې بشپړ امنيت ټينګ شي.

ده ووبل: داچې خلک وايي جلال آباد ته داسلامي تحريک دځواکونو له داخليدو نه وړاندې دجلال اباد له بنديخانې څخه بنديان . . . يې دي په دې اړه ماته معلومات نشته او . . . خبر چې پخواني اداري بنديان لرل . . . که به .

دننګرهار . پخواني اداري دمسئولينو په . . . محترم قومندان ملا بورجان ووبل: دهغوي اکثريت مجاهدين دي ، جهاد يې کړي دي اوزموږ . . . خو کومو کسانو چې پاټکونه اچولي اونور فسادونه يې کړي دي له هغوي سره به حساب کيږي.

ده ووبل: موږ کوښښ کوو چې سل په سلو کې دننګرهار دخلکو امنيت ټينګ اوخلک دامن ژوند تېر کړي او ددې تر څنګ اسلامي شريعت نافذ شي. ده دکونړ په اړه ووبل: هغوي له موږ نه غوښتي دي چې هغه ولايت ته ورشو . خو موږ دخپلو مصروفيتونو په هکله تر اوسه پوري هلته نه يو تللي . حقيقت دا دی چې په هغه ولايت کې هيڅ مشکل نشته ، دکامې ولسوالي په اړه يې ووبل چې کامې ته زموږ له ورتګ نه مخکې دخورشيد په نامه يو قومندان څه ناځه مشکلات پيداکړي وو، خو اوس طالبانو دامسئله حل کړې ده.

ده زياته کړه : په کومو ولسواليو کې چې مصلح مسئولين موجود وو ، هغوي پخپل ځاې پاتې دي ،خو دنورو پرځاې مو خپل طالبان لېږلي دي ، موږ غواړو چې دکابل دائتلافي اداري له ځواکونو څخه نوري سيمې هم ونيسو.

قومندان ملا بورجان په دې بريالیوعمليانو کې دطالبانو داسلامي تحريک دځواکونو دتلفاتو په اړه په داد سره ووبل چې دخداي «ج» په فضل طالبانو ته دسرلوړ تلفات رسيدلي دي.

له ملا محمد عمر «مجاهد» سره . . .

ووبل چې ئې ورځ په سروبي کې څه جنګ نه دي شوي.

ددي پوښتني په ځواب کې چې دپخواني پاچا استازي غلام غوث وزيري ويلي دي چې پاچا به ډير ژر افغانستان ته ولاړشي دتحريک محترم مرستيال ملا محمد رباني ووبل: چې هرافغان مسلمان کولاي شي افغانستان ته راشي له تحريک سره داسلام د اصولو سره دملت په خدمت کولو کې مرسته وکړي . خپل هيواد ودان کړي. دا څکه چې دغه تحريک له خپل پيل څخه تر اوسه دهيواد زياتره برخې تر کنټرول لاندي راوستي دي.

دمحترم ملا محمد عمر مجاهد چې دافغانستان اکثرو علماو له هغه سره دامير المومنين په توګه بيعت کړي دي.

نوپه خپلو سيمو کې يې اسلامي شريعت نافذ کړي دي. مونږ له هر افغان مسلمان چې په بهر کې اوسيږي غواړو چې هيواد ته راشي او په . . . مقدس کارکې له مونږ سره همکاري . . . وکړي .

. . . تحريک محترم . . . مرستيال زياته کړه چې دجلال آباد په ښار اودهيواد په خشبع کې امنيت قايم دي . ټولو هغو خيريه مؤسسوته چې د هيواد د آبادي دپاره کار کوي دعوت ورکوو چې ښار ته راشي اوخپلو کارونوته دوام ورکړي. په دې هکله مونږ دملګرو ملتونو دمؤسسو له مسئولينو سره وکتل او دوي ته مو داد ورکړ چې ددوي امنيت به تامين وي اوپه دې هکله به اوهره مسکنه مرسته ورسره کوو. دا څکه چې دمؤسساتو کارونه له ملت سره مرسته ده او دې ته موږ دقدر په سترګه ګورو.

په آخر کې دتحريک محترم مرستيال مولا محمد رباني دافغانستان ملت او مسلمان خلکو ته په خپل پيغام کې ووبل: چې له موږ سره دي داسلام داصولو سره سم دهيواد دودانولو کې مرسته اوهمکاري وکړي. ټوله دي له فساد اوفتني څخه وژغوري . ټول بايد دالله تعالي رضا دمسلمانانو خدمت دخان شعار وګرزوو . چې په دې توګه به . . . افغانستان له مشکلاتو څخه . . . سوروو.

دخوست ولايت محصلينو دطالبانو له اسلامي تحريک سره دبشپړ ملاتړ اعلان وکړو

دسيلي په نيمه نيټه دغرمې په دولسو بجو په پېښور کې دخوست دمحصلينو غونډه وشوه پدې غونډه کې دافغانستان دمختلفو ولايتونو محصلينو او زده کوونکو برخه اخيستي وه ، اوله طالبانو له اسلامي تحريک سره ئې د هر دول مالي او ځاني مرستو ژمنه وکړه.

پدې غونډه کې هر يوه دطب پوهنځي محصل ضابط خان ، واحدي ، او محترم محمد عارف اورحيم الدين شفاهي، عبدالباقي خان ، ثني ، اسدالله ، ترابي ، اوشاه جان اوهمدارنګه نورو محصلينو خبري وکړي پدې غونډه کې محترم ورور ضابط خان دخوست ولايت دمحصلينو دريس ، محمد عارف دهغه دمرستيال او رحيم الدين ، شفاهي ، دمنشي په حيث او همدارنګه نور محصلين وګمارل شول.

دوي محصلينو ته ډاډ ورکړ چې داسلامي تحريک طالبانو زموږ سره دتعليم اوتربيتي اونصاب د لوړتيا په برخه کې هر راز مرستې کړي اوکوي ئې چې دبيګي په ترکه يې زمونږ دري تنه محصلين دخوست ولايت څخه دلوړو اوسلګي محصيلاتو دحاصلولو لپاره دګندهار پوهنتون دطب پوهنځي ته معرفي کړي دي همدارنګه محصلينو دطالبانو له لوړو شخصيتونو څخه غوښتنه وکړه، چې موږ به دي په خوست کې دعالي محصيلاتو زمينه برابره کړي په آخر کې ټولو محصلينو دکابل د اداري اودهغوي دګوډاګيانو غير شرعي مواقف وغندل او دطالبانو داسلامي تحريک ستاينه يې وکړه.

دهيواد په ګوټ ګوټ کي دعظيم الشان قرآن دختمونو غونـــــــــــــــدي وشوي

دغور ولايت له مرکز چغچران څخه زمونږ خبريال خبر راکوي چې په هغه ولايت کې دوالي محترم ملا عبدالرحمن اخوند په مشري دتحريک دمسئولينو . . . بي مشرانو يوه درنده غونډه . . .

غونډه دعظيم . . . شان قرآن دځومبارکو آيتونو په تلاوت پيل شوه اوبيا د اميرالمؤمنين محترم ملا محمد عمر مجاهد دهغې غوښتنې له مخې چې له مسلمانانو افغانانو او دنړۍ له مسلمانانو څخه يې کړې وه ترڅو دعظيم الشان قرآن ختمونه وکړي او له موجوده بحران څخه دافغانستان دمسلمانانو دنجات لپاره دوعا وغواړي ، دوي هم دعظيم الشان قرآن ختم وکړ، دلوي خداي «ج» په دربارکې يې دوطن دنجات دوعا وکړي اوداسلامي نظام دحاکميت لپاره يې دطالبانو له اسلامي تحريک سره خپل غوځ ملا تړ څرګند کړ.

روانه وه اوپه . . . سازديکر دلسانګه په اداکولو سره پاي ته ورسيده.

دهيواد له ګوټ ګوټ څخه زمونږ خبريالان خبر راکوي چې د عظيم الشان قرآن دختمونو غونډي شوي اوزمونږ ديندارو خلکو دګران وطن دابادي سوکالي اوپه هغه کې داسلامي نظام دحاکميت لپاره دوعا وشوي.

راپاڅېدلي يو، مونږ ته پکار دي چې اسلام ته دخدمت په منظور جوماتونه ، ديني مدرسي او نور مقدس ځايونه ودان کړو څو اسلامي شريعت په هيواد کي خپور او دمظلوم ملت خدمت وکړو.

مونږ په خاصه توګه . . .

ملا محمد عمر مجاهد سره وليدل دملاقات په جريان کښې دافغانستان دموجوده مشکلاتو دحل په باره کښې تقريباً يونيم ساعت خبري وشوي، استاذ فضل الله فياض پخپلو خبرو کښې ددې مشکلاتو ، ګوډوبو، تخريباتو ، چوراوچپاول اوغارت ګريو . په مسلمان ملت باندي د رنګارنګ ظلمونو او دريدريو اولين سبب اوعلة العلل داخلي کمونستان ، روسان ، ايران ، استاذ رباني ، مسعود او ددوي نش په نوم غير اسلامي ، غير ملي اوغير قانوني اداره وګڼله اورياته يې کړه چې ددې عظيمې فتنې دمحو کولو لپاره بايد دافغانستان ټول مسلمان مظلوم ملت قيام اوپاڅون وکړي، اوپه ټول افغانستان کې دالله تعالي دحکومت دقائمولو، دونيم مليون شهيدانو دپاکو وينو دجبران او دمليونونو کونډو اويتيمانو اودپنځه مليونو څخه زياتو مهاجرينو اوبالاخره دافغانستان دټول مظلوم ملت دحقوقو د راژوندي کولو په خاطر ، اوپه دغه اسلامي مملکت کښې داسلامي شريعت دنفاذ په رڼاکښې دعدل اوانصاف له مخې ديوره امن اوامان راوستلو په خاطر اوږه په اوږه ددې لوئي اوعظيمې فتنې اومنکراتو دمحوه کولو لپاره دطالبانو حمايت وکړي.

استاد فضل الله فياض دخپل بيان په آخر کې اميرالمؤمنين اوټولو طالبانو ته ډاډ ورکړ چې مونږ اودافغانستان ټول مسلمان ملت ستاسو په ملاتړ ستاسو شانه ولاړيو بواځې اوبواځې دقرآن عظيم الشان داحکامو د تطبيق اوپه افغانستان کې داسلامي شريعت دنافذيدو په خاطر مو داميد سترګي تاسو ته دي نوهيله ده چې تاسو طالبان دربانی اومسعود دنش په نوم اداري غونډي دچوکيو اودنيا دمال اومحبت په جال کښې ګير راته نه شي، او دغرور اوانحرافاتو څخه ځان بچ وساتي. دمجلس په آخر کښې اميرالمومنين ملا محمد عمر مجاهد ډاډ ورکړ چې مونږ خاص الخاص دالله جل جلاله درضا دحاصلولو اوپه افغانستان کښې داسلامي شريعت دنفاذ راوستلو اودهغه په رڼا کی دپوره امن اوامان دقايمولو لپاره قيام کړيدي. کومې زياتي سيمې چې دطالبانو دتسلط لاندې دي تاسو اونور مسلمانان ټول کولی شی چې هلته داسلامي شريعت دنفاذ په برکت پوره امن اوامان له نژدې څخه پخپلو سترګو وګوري.

مردم متدين ننګرهار جوته ، جوته بامعاون تحريک اسلامي ملاقات کردند

بعداز ورود مع الخير کاروان صلح وامنيت به ننګرهار اهالي مسلمان ومتدين انجا جوقه ، جوقه در مقر ولايت ننګرهار تشريف اورده باجناب الحاج ملا رباني اخند معاون محترم تحريک اسلامي ملاقتهاي داشتند و ورود کاروان پرفيض سپاهيان رشيد تحريک احضور معاون . . . را مبارک باد عرض کردند ووعده . . . همکاري را به مسئولين دولتي . . . اظهار پيش کردند . در مقابل جناب معاون تحريک اسلامي از اوشان تشکر نموده در حصه به اوشان وعده هر نوع خدمت را دادند.

حاجي قدير دننګرهار پخواني والي وحدت په تيلفون کې ووېل:

پاکستان دتورخم له لياري مداخلت نه دي کيري

دننګرهار دماني شوي شوري رئيس حاجي عبدالقدير دوحدت له ورځپاڼي سره په يوه تليفوني مرکه کښې ووېل: مونږ د ننګرهار اومشرقي په نورو سيمو کښې دپاکستان په مداخلت نه يو پوه شوي.

حاجي عبدالقدير زياته کړه دافغانستان امنيت دپاکستان امنيت دي که په افغانستان کښې امن نه وي نو دا په پاکستان هم بد تأثير کوي ځکه پاکستان په افغانستان کي مداخلت نه کوي.

حاجي عبدالقدير دکابل د اداري پريکنده بي ځايه اودهغوي کار وباله اوپه خپله يې داخبر . . . رد کړ.

داخبره څرګنده ده . . .

دپخواني پاچا ظاهر شاه داعلاميي په باب محترم مستقي صاحب ووېل: چې ظاهرشاه دشلو کالونو نه زيات کيږي چې له هيواد څخه ليري پاتي شوي دي ، اوس دغه مجهوله خبره ده چې آياافغانان په ده باندي راضي دي او که نه دي ؟

اما داخبره څرګنده ده چې په عالي قدر امير المؤمنين باندي ټول افغانان راضي دي

دخوســـــــــت اداري تـــــشکيلات بشپړ شول

دخوست له ولايت څخه دشريعت خبريال ليکي چې دلويي پکتيا له بشپړي تصفيه وروسته دخوست ولايت دمرستيال محترم قاري صاحب جلالزي په مشرتابه کښې دهغه ولايت د شوري دغړيو له خوا محترم مولوي صاحب محمد الله دولايت مستوفي دامنيه قوماندان محترم مولوي صاحب عبدالقادر او ښاروال هم برخه لرله دشوري غړيو هريوه په خپل نوبت بشي عالمانه وينااوي وکړي، اود اداري تشکيلاتو دتکامل په اړوند يي په دغه پرتمينه غونډه کښې لاندي پريکړي وکړي . د تڼيو په ولسوالي کښې ئي لاندي ټاکني وشوي

محترم قاري محمد اسمعيل ولسوال خليفه صاحب ، حسب الله خان معاون ، مولوي محمد داود دامنيه قوماندان ، مولوي دوست محمد معاون، مولوي شريف الدين او مولوي ماموجان يي دقاضيانو په حيث وټاکل . او ددرګي د ولسوالي ولسوال محترم مولوي عبدالسلام ، محترم مولوي رسول شاه معاون ، ملاشير محمد دامنيه قوماندان، ملا محمد داود معاون اوملا ملنګ يي د څارنوال په صفت وټاکل

په هرات کې . . .

دا دول سګار نه خلاص دي، په خپلو کورونو کې ژوند کوي دخان دپاره خواري کاري. په دې باندي هيڅ دول فشار نشته.

ديو بل پوښتني په ځواب کي چې له ايران سره اريکي څنګه دي اواسمعيل سرته هرات ته راتلاي شي او که څنګه د هرات والي صاحب ووبل چې دهيواد نژدې اتلس ولايتونه دطالبانو په لاس کي دي اوپه دغو ټولو سيمو کي هر چاته اجازه ده چې راشي خپل دست المال ماليونه په بيت المال ته تسليموي او سياسي فعاليت به نه کوي. داکه اسمعيل خان وي اوکه هر څوک وي زمونږ دروازه ورته خلاصه ده.

له ايران سره زمونږ اړيکي سي دي. خوپه ايران کي هم دنړۍ دلي دي. . . . خپلو خلکو سره . . . معلوم دي.

اعلاميه ولايت ننګرهار

مأمورين وکارکنان ادارات ومؤسسات به وظايف خويش حاضر شوند

مقام ولايت ننګرهار ضمن پخش يك اعلاميه از تمام مامورين ، کارکنان ادارات ومؤسسات دولتي خواهش نموده اند که به وظايف خويش سراز روز يك شنبه ۱۳۷۵/۶/۲٤ هـ ش حاضر شوند ورفع مسئوليت نمايند.

دګډون بيه شپږ مياشتني کالني

پاکستان	Rs.400	Rs.200
دخليج هيوادونه	SR.300	SR 150
نړيوال هيوادونه	US$150	US$75

يادونه

شايي ستاسو اسنان به احازه د . . . چې دا ټول سپيڅلي . . . ځايونو کښي دغورځوي

عمر دې لنډ شو آشنا!

رباني اوملګري يې دطالبانو داسلامي تحريک له راپاڅيدلو اودفسادونو له منځه وړلو سره سم دخپل نيم کله قدرت دزوال له ويري نه په لړزه شول لاهغه وخت به يې کله دنړدې والي اوکله دغولوني خبرې اتري اوراشه درشه وروسره کول، بيا چې داسلامي تحريک مخلص مجاهدين دالله تعالي په کومک په يوه تيزه منډه ميدان ښار اوچارآسياب ته راورسيدل او ددوي په يې سيکه اورمير کي يې پښه ورکيښوده هغه وخت له دوي څخه دغولوني او دوه مخي چل ول هير شو اوهغه د زړه دکومې اواز يې (چې داهل الله او علماوو دښمني ده) راووت اودهغې دښمنې لپاره يې ترهر چا دمخه دمجهاد اونوميالي افغانستان دژوند اوايمان دښمنانو (روس اوهند) ته په شرميدلو سترګو اوپوره ذلت سره دمرستې غوښتنې لاس وروغزاوه، اوبيايې هغه جنرال دوستم ته عذرونه پيل کړل چې ديوه وخت په غوښتنه يې زوي ورته وايه اودهغه مليشه يې داسلامي اردو جز ، ګڼله ، مګر ديل وخت له تقاضا سره سم يې ده ته او دده مليشوته کمونستان او ملحدين ووېل او دهغوي په ضد يې جهاد اعلان کړ ، خواوس يې بيا چې ځان اړوليد نود « ګذشته را فراموش » اوه تير په هير » په قاعده باندي يې ننواتي پسې پيل کړي دي اوجنرال دوستم چنداني باك نه ورباندي راوړي .

همدارنګه يې حکمتيار په ټول سياسي ژوند کي په داسې بدو نومونو ياد اوه چې څومره يې خولي ته ورتلل، مګر کله يې چې دخپل ځان اوقدرت په زوال باور شو نو هغه يې هم په واسطو سره د« تير په هير » په فورمول له ځانه سره ومانه.

اوس چې د الله تعالي په فضل اونصرت اودهغه دپاك شريعت دعملي کولو په برکت د طالبانو داسلامي تحريک سپيڅلو اومخلصو مجاهدينو په پکتيکا اولويه پکتيا کې دظلم اوفساد ځالي ونړولې اولاننګرهار ته و فتح شوي رباني داسې اپلتي ويل پيل کړل لکه دچاچي سرد نيه وي.

بيا چي کله داالله تعالي په فضل اودمشرقي ولايتونو دمسلمان اومجاهد ولس په مرسته دمشرقي ولايتونو اداره دطالبانو داسلامي تحريك ديندارو مشرانو په خپل لاس کی واخيستله نو رباني خولا پريږده چې دمسعود (شيرپنجشير!!) هم سدله سره ووت اوپه لوی اواز يي په پاکستان تور ولګاوه چي « دغه پلان په پاکستان کي جوړ شوی دی اومسلح طالبان اومليشي يي له تورخم نه راواړولي. . . » دا په داسي حال کي چي له يوی خوانه دتورخم دروازه تړلي وه هر چاليدل چی : دواړو خوا وو ته په زرګونو لاری اوموټرونه دتيريدلوپه انتظار کي ولاړ وو او دنړی اژانسونو هم دغه دروغ بيرته دمسعود په خوله ورننويستل اوله بلی خوايي څه موده مخکي پاکستان ته خپل ملګری « قانونی» ليږلی و چی پاکستان ته دسفارتکارانو د وژلو ، تبپی کولو ، سفارت سوځولو اونورو غلطيو عذرو وايي خوشاله يي کړی اوسفارتي خلك کابل ته وروغواړي دکابل يي واکه او وريوری ګنډل شوی صدراعظم هم دبي سيکه اداری اجاره شوو توپکيانو ته ووېل چي :« ددغو خلکو (ديني طالبانو) په ضد جهاد وکړی!!!) دپاکستان دجماعت اسلامي مولوی راحت ګل صاحب له دی خبری مخکي داستفهام تعجبي په لهجه دشريعت خبريال ته ويلي و چي :« کوم کافر به دطالبانو په خلاف جنګ ته جهاد وايي؟»

نو اوس دی ښاغلي صدراعظم ځان وښيي چي دمولوی راحت ګل صاحب دوينا له مخي نه دی څوك دی؟

څرنګه چي ښاغلی صدراعظم ځان لوی عالم ګڼي په وينا وليکنو کی يی ويروج اولامده ويلی دی ان تردی چي دځنو آيتونو اوسورتونو تفسير يی هم ليکلی دی سره له دی چي په صرف ، نحو اوبلاغی علومو چي دتفسير دپوهيدلو شرط دی نه پوهيږي له جهاد نه مخکي يی د (سورة المنافقون) تفسير ليکلی دی او دنفاق آيتونو يی تلميحاً رباني ته محامع کړی دی دا خوپريږده چي د شرم او ملامتی له دائري نه يی خان ايستلی دی ، پاتي شو پوهاند(!) سياف: دطالبانو داسلامي تحريك په لاس چي په اکثر افغانستان کي شرعي احکام ، حدود اوقصاص عملي شوی دی دغه احکام ، حدود اوقصاص اسلامي برنامه نه ګڼي او وايي چي: « طالبان هيڅ اسلامي برنامه نه لري. . . » هيڅ توری په پښتو ژبه کي دسلب کلي لپاره په کار راوستل کيږی نو مطلب يی داشو چي دغه شرعي احکام ، حدود اوقصاص يوهم دده په عقيده اسلامي برنامه نه ده نعوذ باالله تعالي - اودغه دکفر کلمه ده

له دی واړونه داسي معلوميږي چي دکابل اداري دمشرانو سدله سره وتلی او لرزانده تبی نيولي دی، اپلتي وايي، داچي داسلامي تحريك مجاهدينو اوس دلمرخاته له پلوه هم په اورمير کي پښه ورکيښوده نوتبه يي دوه چنده اودری چنده شوه او لاته څوچنده شي؟ ځکه دوی اوس خپل عمر لنډوينی اودتيښتي لاری چاری به سنجوی مګر ددی په ځای چي ټول عمر ځان او اولاد له وطنه ورکوی خير يی په دی کی دی چي يی له قيد اوشرط نه ځانونه دطالبانو اسلامي تحريك ته تسليم کړی په دغه ترتيب سره به خپل ځان ، اولاد اوملګری له تباهي نه وژغوری.

اعلان مفقودی

نامحمد ولد الف جان ۱۳ ساله باشنده ولايت غزني ولسوالي جوګـاني قريه سفريخيل مدت يکنيم ماه ميشود که فرار لادرك است اګر هرکس از نزدش خبر دارد در نمايندګی طالبان بدست ملا محمد ضابط ويا در مدرسه دارالعلوم احياء الاسلام بدست ملامحمد ضابط ويا قاري الله داد تسليم نمايند. نهايت لطف شان خواهد بود.

SHARIAT WEEKLY

Editor-in-Chief Molvi Ahmad Jan

PAK-RUPI: A/C CD. No 1694 69

Habib Bank LTD Tehkal Bala Branch

Peshawar Pakistan